وضو کا طریقہ (پشتو)

# دَ اَودَس طریقه (حنفي)




شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَہلِسُنّت، بانِیِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

**مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتي کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

طلب غم مدینہ بقیع ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالي نوم: **دَ اَودَس طريقه (حنفي)**

اول ځل: ....................................

تعداد: ....................

ناشِر: **مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه**

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته**

**کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ**

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# دَ اَودَس طريقه (حنفي)

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي **حضرت علاّمه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله ”وضو کا طریقہ (حنفي)“ په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

# فهرست

## دَ اَودَس طريقه (حنفي)


د دُرود شريف فضيلت ........................................................ 1

د عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ عِشقِ رسول ﷺ .................................. 1

د گناه د رژيدلو حِکايت........................................................... 3

د اَودَس ثواب به نه کيږي........................................................ 4

تول بدن پاک شو ................................................................. 4

د اَودَس سره د اوده کيدو فضيلت............................................ 5

که په اَودَس کښې مړ شو نو شهيد دے ...................................... 5

د مصيبتونو نه د حِفاظت نُسخه.................................................. 5

د"احمد رضا" د ووه حُروفو په نسبت ...................................... 6

هر وخت په اَودَس کښې د اوسيدو ووه فضائِل ............................ 6

يو په دوه ثواب ................................................................... 6

په يخنئ کښې د اَودَس کولو حِکايت.......................................... 7

د اَودَس طريقه (حَنَفي)........................................................... 7

د اَودَس په پاتې شوو اوبو کښې د 70 بيمارو نه شِفاء...................... 10

د جَنَّت اته واړه دروازے بيرته کيږي ......................................... 11

نظر به کله هم نه کمزورے کيږي ............................................. 11

د اَودَس نه پس د سورۀ قدر لوستلو فضائِل.................................. 12

د اَودَس نه پس د لوستلو دُعا (اول و آخِر درودشريف)........................ 12

**د اَودَس نه پس دا دُعا هم اولولئ** (مخکښې وروستو درود شريف)............. 12

**د لفظ"الله" د څلورو حروفو په نِسبت د اَودَس څلور فرض** ..................... 13

د وينځلو تعريف ................................................................... 13

”كرَم يا رَبَّ الْعٰلَمِيْن“ د څوارلسو حروفو.......................... 13
په نِسبت د اَودَس څوارلس سُنَّتونه........................................ 13
”اے خورِ شَهَنْشاهِ مَدِينه اَلصَّلوٰةُ وَالسَّلام“ ..................... 14
د ۲۹ حروفو په نِسبت د اَودَس ۲۹ مستحَبّات...................... 14
د اَودَس 16مکروهات ............................................................. 16
د لـمر د تَودو اوبو وضاحت........................................................ 17
د مُستعمَلو اوبو اهم مسئَله ....................................................... 18
خاورو سره ګډو اوبو باندې اَودَس کيږي که نه؟.......................... 19
پان خوړونکي تَوَجُّه اوکړئ ....................................................... 19
دَ تَصَوُّف عظيمه مَدَني نُسخه .................................................. 21
د زخم وغيره نه د وينې وتلو پينځه احکام................................. 21
که د يخنۍ نه اندامونه چاودلي وي نو.................................... 23
په اوداسه کښې د نکريزو او رانجو مسئَله ................................ 23
په اِنجِکشن لګيدلو اَودَس ماتيږي که نه؟................................. 24
د خُوګ سترګې اوښکې ........................................................... 24
**پاک او ناپاک رُطُوبت (لـمدوالے)** ...................................... 25
تنړاکه [دانه، پونړاکه] او پولۍ.................................................. 25
په ګرځون کولو اَودَس کله ماتيږي؟ ........................................ 26
د خندا احکام ........................................................................... 26
آيا د سَتر په ليدلو اَودَس ماتيږي؟ .......................................... 27
د غُسل اَودَس کافي دے.............................................................. 27
په لاړو کښې وِينه..................................................................... 28
په اَودَس کښې د شک راتلو پينځه احکام................................ 28

د اُوده کیدو سره د اَودَس د ماتیدو او نه ماتیدو بیان.........................29
د اوده کیدو هغه لس طریقے چې د هغې سره اَودَس نه ماتیږي ..............29
د اوده کیدو هغه  لس طریقے چې په کومو اَودَس ماتیږي..........................30
د انبیاءِ کرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام اَودَس او خوب مبارک ..............31
د جُماتونو اَودَس خانے....................................................................32
په کور کښې اَودَس خانه جوړه کړئ..................................................32
د اَودَس خانے جوړولو طریقه...........................................................33
د ”یا رَسُولِ خدا“ د  نهه حُروفو په ....................................................34
نِسبت د اَودَس خانے 9 مدني ګلونه..................................................34
د چا چې اَودَس زر ماتیږي د هغه د پاره شپږ احکام.............................36
ووه مُتفَرّقات .....................................................................................39
دَ آیت لیکلې شوي کاغذ شا ته د لاس لګولو مسئله..............................40
بے اَودَسه د قرآن مجید یو ځائے ته هم لاس نه شي لګولے ....................41
په اَودَس کښې د اوبو اِسراف ...........................................................41
(1) په جاري نهر باندې هم اِسراف.....................................................42
د اعلٰی حضرت فَتوٰی.........................................................................42
د مُفتي احمد یار خان تفسیر ...............................................................43
(2) اِسراف مه کوه................................................................................43
(3) اِسراف شیطاني کار دے...................................................................43
(4) دَ جَنَّت سپین محل غوښتل څنګه دي؟............................................44
بد ئې اوکړل او ظُلم ئې اوکړو..........................................................44
اِسراف صرف په دوو صورتونو کښې ګناه ده.......................................45
عملي طور اَودَس زده کړئ...................................................................45

د جُمات او مدرَسے د اوبو اِسراف ................................................46
د ”احمد رضا“ د ۷ حروفو په نِسبت د اعلیٰ حضرت.............................47
له طرفه د اِسراف نه د بچ کیدو ۷ طریقے ......................................47
د اِسراف نه د بچ کیدو 14 مدني ګلونه..........................................50
د 40 مدني ګلونو رَضَوِي ګلدسته ................................................54
په اوداسه کښې مړ کیدو والا شهید دے.........................................60

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# دَ اَودَس طريقه (حنفي)

دا رِساله د اوّل نه تر آخِره پورې اولولئ، قوي اِمکان دے چه ستاسو ډيرې غلطئ به ستاسو مخې ته راشي.

## د دُرود شريف فضيلت

د سرکارِ دوعالَم، نورِمُجسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُبارک دے: چا چې په ورځ او شپه کښې زما طرف ته د شوق او محبَّت په وجه درې درې ځله دُرُود شريف اولوستل، په اللّٰه تعالیٰ باندې حق دے چې هغه جَلَّ جَلَالُهٗ د هغه د هغه ورځې او د هغه شپې ګناهونه اوبخښي. (المعجم الكبير للطبراني ج18 ص362 حديث 928)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عِشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

حضرتِ عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ځل يو مقام ته اورسيدلو نو اوبه ئې را اوغوښتلې او اَودَس ئې اوکړو بيا يو دم مُسکے شو او ملګرو ته ئې اوفرمائيل، تاسو خبر ئې زه ولې مُسکے شوم؟ بيا ئې د دې سوال جواب پخپله ورکړو او اوئې فرمائيل، يو ځل سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم په دې ځائے اَودَس فرمائيلے وو او د اَودَس نه پس مُسکے شوے وو او صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ته ئې فرمائيلي وو، تاسو خبر ئې زه ولې مُسکے

شوم؟ صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم يعني الله او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښه پوهيږي. خوږ خوږ مُصطفٰي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ”چې کله څوک اَودَس کوي نو د لاسونو وينځلو سره د لاسونو او د مخ وينځلو سره د مخ او د سر د مسح کولو سره د سر او د ښپو وينځلو سره د ښپو ګناهونه اورژيږي“. (مُسندِاِمام احمد بن حنبل ج۱ص ۱۳۰ حديث ۴۱۵)

وضو کرکے خنداں ہوئے شاہِ عُثماں
کہا، کیوں تبسُّم بھلا کر رہا ہوں
جوابِ سُوالِ مخاطب دیا پھر
کسي کي ادا کو ادا کر رہا ہوں

مفهوم: عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَودَس اوکړو بيا مُسکے شو او اوئې وئيل: چې زه ولې مُسکے شوم؟ بيا پخپله ئې د سوال جواب ورکړو چې زه د چا ادا ادا کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل؟ صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان به د سرکارِ خيرُ الاَنام صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هره هره ادا او هر هر سُنَّت څنګه په شوق او محبّت عمل کولو. بله دا چې د دې رِوايت نه د **ګناه د وينځلو نُسخه** هم په لاس راغله. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ په اَودَس کښې د خُلې وينځلو سره د خُلې، پوزه په اوبو اچولو پاکولو سره د پوزې، په مخ وينځلو کښې د بڼړو سره د ټول مخ، په لاسونو وينځلو کښې د لاسونو سره سره د نوکانو د لاندې پورې، د سر (او د غوږونو) په مسح کولو د سر سره سره د غوږونو، او د ښپو په وينځلو د ښپو سره سره د ښپو د نوکانو د لاندې پورې ګُناهونه رژيږي.

# د ګناه د رژيدلو حِکايت

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه د اَودَس کووونکي ګناهونه رژيږي په دې باره کښې حضرتِ عَلّامه عبدُالوَهَّاب شَعراني رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه يو ايمان تازه کوونکے روايت نقل فرمائي چې: يو ځل سَيِّدُنا اِمامِ اعظم ابُو حنيفه رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه د کوفے د جامِع مسجد اَودَس خانے ته تشريف يوړلو نو يو ځلمے ئې په اَودَس کولو اوليدو، د هغه نه د اَودَس [د استعمال شوو اوبو] څاڅکي څڅيدل. اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه ورته اوفرمائيل: اے ځويه! د مور او پلار د نافرمانئ نه توبه اوکړه. هغه فوراً عرض اوکړو:''ما توبه اوکړه''، د يو بل کس د اَودَس [استعمال شوي اوبه ئې چې په] څڅيدلو اوليدلې، نو هغه کس ته ئې اوفرمائيل: ''اے زما وروره ته د زِنا نه توبه اوکړه''، هغه عرض اوکړو: ''ما توبه اوکړه''، د يو بل کس د اَودَس د اوبو څاڅکي ئې اوليدل نو هغه ته ئې اوفرمائيل:''د شرابو د نشے او د سندرو او باجو د اوريدو نه توبه اوکړه'' هغه عرض اوکړو: ''ما توبه اوکړه''. ولې چې سَيِّدُنا اِمامِ اعظم اَبُوحَنِيفه رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه ته به د کشف په وجه د خلقو عيبونه ښکاره کيدل ځکه هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ کښې د دې کشف د ختميدو دُعا اوکړه، الله تعالٰی دُعا قبوله کړه او هغوئي ته د اَودَس کوونکو د ګناهونو رژيدل ښکاره کيدل بند شو.

(الميزان الکبري، ج۱، ص۱۳۰)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَودَس ثواب به نه کيږي

د عَمَلونو دار و مدار په نِيَّتونو دے: که په يو عمل کښې شه نِيَّت نه وي نو ثواب نه کيږي. هم دا حال د اَودَس هم دے، د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارے مَکتَبَةُ الْمدِيْنَه د 1250 صفحو په چاپ شوي کتاب "**بهارِشريعت مُخَرَّجَه** جلد اوّل" صفحه292 کښې دي: په اَودَس باندې د ثواب ګټلو د پاره په حُکمِ اِلٰهي باندې د عمل کولو نِيَّت کول ضروري دي کني اَودَس خو به اوشي خو ثواب به نه کيږي. اعلٰي حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَيۡه فرمائي: د اَودَس د نِيَّت نه کولو عادت جوړوونکے به ګُنهګار وي، په دې کښې نِيَّت کول سُنَّت مؤکده دي. (فتاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجَه ج4، ص616)

## ټول بدن پاک شو

د دوو حديثونو خُلاصه ده: "چا چې بِسۡمِ الله اولوستله او اَودَس ئې اوکړو د هغه د سر نه د ښپو پورې ټول بدن پاک شو. او چا چې د بِسۡمِ الله وئيلو نه بغير اَودَس اوکړو د هغه دومره بدن پاک شو په څومره چې اوبه تيرې شوې." (سنن دار قطني ج١ ص١٠٨، ١٠٩ حديث ٢٢٨، ٢٢٩)

دحضرت سَيِّدُنا ابوهُريره رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې سرکارِمدينه صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "اے ابو هُريره (رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ) چې کله ته اَودَس کوے نو بِسۡمِ اللهِ وَالۡحَمۡدُلِله وايَه چې تر څو پورې ستا اَودَس باقي وي تر هغې پورې به ستا فرِښتے (يعني کرامًا کاتِبين) ستا د پاره نيکۍ ليکي."

(اَلۡمُعجَمُ الصّغير لِلطَّبَرَانی ج١ص٧٣ حديث ١٨٦)

## د اَودَس سره د اوده کيدو فضيلت

په **حديثِ** پاک کښې دي: ”د اَودَس سره اوده کيدونکے د روژه په خُله عِبادت کوونکي په شان دے.“ (کنزُ العُمّال ج ۹ ص ۱۲۳ حديث ۲۵۹۹٤)

## که په اَودَس کښې مړ شو نو شهيد دے

د **مدينے** تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم حضرت سَيِّدُنا انس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته اوفرمائيل: ”ځويه! که ته هميشه په اوداسه کښې د اوسيدو طاقت لرې نو هم داسې کوه، ځکه چې مَلَکُ الْمَوْت چې د کوم بنده رُوح د اَودَس په حالت کښې واخلي نو د هغه د پاره شهادت اوليکلے شي.“ (شعب الايمان ج ۳ ص ۲۹ حديث ۲۷۸۳)

اعلٰي حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”هميشه په اَودَس کښې اوسيدل مُستحب دي.“

## د مصيبتونو نه د حِفاظت نُسخه

**الله** تعالٰی **حضرت سَيِّدُنا موسٰي كَلِيمُ الله** عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ته اوفرمائيل: ”اے موسٰي! که د بے اَودَسۍ په حالت کښې تا ته څه مُصِيبَت پيښ شو نو بِخپله خپل ځان ملامته کوه.“ (شعب الايمان ج ۳ ص ۲۹ حديث ۲۷۸۲) په فتاوٰی رضويه کښې دي: ”هميشه په اَودَس کښې اوسيدل د اسلام سُنَّت دي.“ (فَتاوٰي رَضَوِيّه ج ۱ ص ۷۰۲)

## د”احمد رضا“ د ووه حُروفو په نسبت
## هر وخت په اَودَس کښېِ د اوسيدو ووه فضائِل

اعلٰي حضرت امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: بعضې عارِفين (رَحِمَهُمُ الله) فرمائي، څوک چې هميشه په اَودَس کښېِ اوسي الله تعالٰی به هغه په ووه فضيلتونو مُشرّف کړي:

(۱) فرښتے به د هغه صُحبت ته رَغبت کوي (۲) قلم به [مسلسل] د هغه نيکۍ ليکي (۳) د هغه اندامونه به تسبيح لولي (٤) هغه به د تکبيرِاُولٰي نه نه محرومه کيږي (٥) چې کله اوده شي نو الله تعالٰی به څه فرښتے را اوليږي چې هغه به د پيريانو او انسانانو د شرنه د هغه حِفاظت کوي (٦) د ځنکدن سخته به په پرې آسانه وي (٧) چې تر څو پورې ئې اَودَس وي په امانِ اِلٰهي کښې به وي. (فَتاوٰي رَضَوِيّه ج١ص ٧٠٢ ، ٧٠٣)

## يو په دوه ثواب

يقيناً د يخنۍ، ستومانۍ يا نزله، زُکام، د سر درد او بيمارۍ [په حالت] کښې اَودَس کول ګران وي. خو چې بيا هم څوک په داسې وخت کښې اَودَس اوکړي هله چې اَودَس کول مشکل وي نو د هغه به د حديث د حُکم مُطابِق دوه همره ثواب کيږي. (المُعجمُ الاوسط للطبرانی ج ٤ص١٠٦ حديث ٥٣٦٦)

## په يخنئ كښېِ د اَودَس كولو حِكايت

حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپل غُلام حُمران نه د اَودَس د پاره اوبه اوغوښتلي او د يخنئ په شپه كښېِ ئې باهر ته تلل غوښتل، حُمران وائي: ما اوبه راوړلي، هغوئي مخ او لاس اووينځل نو ما اووئيل: **اللّٰه** دِ تاسو ته كفايت اوكړي **شپه خو ډيره يخه** ده. په دې ئې اوفرمائيل: ما د رَسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: "كوم بنده چې كامِل اَودَس كوي اللّٰه تعالیٰ د هغه تير شوي او راروان ټول ګناهونه بخښي."

(مُسنَدِ بزار، ج۲ ص۷۵ حديث۴۲۲، بهارِ شريعت ج۱ ص۲۸۵)

## د اَودَس طريقه (حَنَفِي)

كعبةُ اللّٰه شريف طرف ته مخ كول او په اوچت ځائے كيناستل **مُستَحَب** دي. د اَودَس د پاره **نِيَّت** كول سُنَّت دي، نِيَّت د زړه اِرادے ته وائي، په زړه كښې چې نِيَّت وي نو په خُله وئيل هم افضل دي، لهٰذا په خُله داسې نِيَّت اوكړئ چې زه د حُكمِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ د پوره كولو او د پاكئ حاصلولو د پاره اَودَس كووم. بِسۡمِ اللّٰه اولولئ، دا هم سُنَّت دي بلكه بِسۡمِ اللّٰهِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ اولولئ چې تر څو پورې مو اَودَس وي فرښتے به [ستاسو د پاره] مسلسل نيكئ ليكي. (المُعجمُ الصغير للطبراني ج۱ ص۷۳ حديث۱۸۶) بيا دواړه لاسونه درې درې ځله د ګيټو [يعني مړوندونو] پورې اووينځئ، (نل بند كړئ او) د دواړو لاسونو د ګوتو خِلال هم اوكړئ، كم نه كم درې درې ځله د غاښونو په ښي طرف، ګڅ طرف كښې او لاندې باندې

مسواک اوکړئ او هره پيره مسواک وِينځئ. حُجّةُ الاسلام اِمام محمّد غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: ”د مسواک کولو په وخت کښې په لمونځ کښې د قرآنِ مجيد د قِراءت [يعني لوستلو] او د ذِکرُالله عَزَّوَجَلَّ د پاره د خُلې پاکولو نِيَّت کول پکار دي“ (اِحياءُ العُلوم ج۱ص۱۸۲) بيا د ښي لاس په درې چونګه اوبو (هره پيره نل بندوئ) په داسې شان درې ځله خُله اُووِينځئ چې هره پيره د خُلې په هره پُرزه باندې اوبه اوبهيږي که روژه مو نه وي نو غرغره هم اوکړئ. بيا په ښي لاس درې چونګه باندې درې ځله د پوزې نرمې غوښې پورې اوبه اوخيژوئ او که روژه مو نه وي نو د پوزې جرړې ته اوبه اوخيژوئ (د پوزې د پاره هره پيره نيم چونګ هم کافي دے او هره پيره چونګ کښې اوبه اچولو نه پس فوراً نل بندوئ)، بيا په ګڅ لاس پوزه پاکه کړئ او کچه ګوته د پوزې په سورو کښې اووهئ. درې ځله ټول مخ داسې اُووِينځئ چې د کوم ځائے نه عادتاً د ويښتو ستې [جرړې] شروع کيږي د هغه ځائے نه واخله د زنې د لاندې پورې او د يو غوږ د لَو [يعني نرمې حصّے] نه د بل غوږ د لَو [يعني نرمې حصّے] پورې هرځائ باندې اوبه اوبهيږي. که ږيره مو وي او اِحرام مو نه وي تړلے نو (اول نل بند کړئ بيا) په داسې شان خِلال اوکړئ چې ګوتې د مرئ د طرف نه [په ږيره کښې] داخِلې کړئ او مخې طرف ته ئې اوباسئ. بيا وړومبے ښے لاس د ګوتو د سرونو نه وينځل شروع کړئ او د څنګلې سره ئې اُووِينځئ. هم دغسې بيا ګڅ لاس اُووِينځئ. دواړه لاسونه د مټ د نيمې [يعني د څنګل او د اُوګے د مينځه] پورې وينځل مُستحب دي. **اکثر خلق په چونګ کښې اوبه**

واچوي او هغه د لاس د بند نه ښکته څنګل طرف ته پرېږدي په دې طريقه اوبه د مټ او د څنګل ډډو ته د نه رسيدو ويره ده. لِهٰذا په بيان کړے شوي طريقه باندې لاس وِينځئ نو بيا په چونګ اوبه د څنګل طرف ته د بهيولو ضرورت نشته بلکه (بغير د صحيح اِجازت نه داسې کول) د اوبو اِسراف دے.

بيا (نل بند کړئ) او د سر مسح په داسې طريقه اوکړئ چې د دواړو لاسونو غټې ګوتې او د شهادت ګوتې پرېږدئ او باقي د دواړو لاسونو د درې درې ګوتو سرونه د يو بل سره اولګوئ او د تندي په ويښتو يا پوستکي [څرمن] باندې ئې کيږدئ او د څټه پورې ئې داسې راښکاږئ چې تَلي د سر نه جدا وي، بيا د څټ نه د تندي پورې تَلي په راښکلو راولئ[1] چې په دې دوران کښې د شهادت ګوتې او غټې ګوتې په سر بالکل اُو نه لګي، بيا د شهادت په ګوتو د غوږونو د دننه غاړو او په غټو ګوتو د غوږونو د باهر غاړو مسح اوکړئ او کچې ګوتې د غوږونو په سُورو کښې داخِلې کړئ. او د ګوتو په شا د څټ مسح اوکړئ، بعضې خلق د مرئ او وِينځلو شوو څنګلو او مټو مسح کوي دا سُنَّت نه دي. د سر د مسح کولو نه مخکښې د نل په ښه طريقه سره د بندولو عادت جوړ کړئ. د ضرورت نه بغير نل چالو پرېښودل يا نيم بندول چې اوبه ترينه څڅيږي دا ګناه ده. بيا مخکښې ښئ

[1] په سر د مسح کولو يوه طريقه دا هم ليکلې شوي ده په دې کښې خاص طور د اسلامي خويندو د پاره زياته آساني ده. چناچه ليک دي چې: د سر په مسح کښې د سنت ادا کولو د پاره دا هم پوره دي چې ګوتې د سر په اولنئ حصه کيږدئ او ورغوي د سر په ډډو باندې او لاسونه جوخت د څټ طرف ته راښکاږئ. (فتاوٰی رضويه مُخرَّجه ج ٤ ص ٦٢١)

بنپه بيا ګخه بنپه، هره پيره د ګوتو نه وينځل شروع کوئ او د ګيتو [پړکو] نه بره ځائے پورې بلکه **مُستَحَب** دي چې د نيمې پنډۍ پورې ئې درې درې ځله اُووِينځئ. د دواړو بنپو د ګوتو خِلال کول سُنَّت دي (د خِلال په وخت کښې نل بند ساتئ) د دې **مُستَحَب** طريقه دا ده چې د ګښ لاس په کچۍ ګوته د ښئ بنپې د کچې ګوتې نه خِلال شروع کړئ او په غټه ګوته ئې ختم کړئ او هم دغه د ګښ لاس په کچۍ ګوته د ګښې بنپې د غټې ګوتې نه ئې شروع کړئ او په کچه ګوته ئې ختم کړئ. (عامه کتُب)

**حُجَّةُ الاسلام اِمام مُحَمَّد غزالي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: "د هر اندام وينځلو په وخت کښې دِ دا اُمِّيد لري چې زما د دې اندام ګناهونه لرې کيږي."

(اِحياءُ العُلوم ج١ ص١٨٣ مُلخّصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَودَس په پاتې شوو اوبو کښې د 70 بيمارو نه شِفاء

په لوټه [يعني کوزه] وغيره باندې د اَودَس کولو نه پس پاتې شوې اوبه په ولاړه ښښلو کښې **شِفاء** ده.چنانچه اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فَتاوىٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجَه جلد ٤ صفحه ٥٧٥ نه ٥٧٦ کښې فرمائي: د اَودَس نه د پاتې شوو اوبو د پاره شرعاً عَظَمت او احترام دے او نَبِيِّ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اَودَس اوفرمائيلو او بقِيّه آب (يعني پاتې شوې اوبه) ئې په ولاړه

اوخښلي او په يو حديث کښې رِوايت شوے دے چې **د دې څښل د اوياؤ مرضونو نه شِفا ده.** نو هغه په دې کارونو کښې د آبِ زم زم سره مُشابَهَت [يعني يو شان والے] لري، په داسې اوبو باندې استِنجا کول مناسب نه دي. د "**تنوير**" په "**آدابِ وُضُو**" کښې دي: "د اَودَس نه پس دِ دَ اَودَس نه پاتې اوبه مخ په قبله په ولاړه اوڅښي." علّامه عَبدُالغني نابُلُسي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: ما تجربه کړې ده چې زه کله بيمار شم نو د اَودَس نه پاتې شوو اوبو باندې راته شِفا حاصله شي.[دوئي فرمائي چې] د نبيءِ صادِق صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې صحيح طِبِّ نَبَوِي کښې موجود ارشادِ کِرامي باندې د اعتِماد [يعني يقين] په وجه ما دا طريقه اختيار کړې ده.

صَـلُّوۡا عَلَي الۡحَبِيۡب! صَلَّي اللهُ عَلٰي مُحَمَّد

## د جَنَّت اته واړه دروازے بيرته کيږي

**حديثِ** پاک کښې دي: "چا چې په ښه طريقه اَودَس اوکړو او بيا ئې د آسمان طرف ته نظر پورته کړو او کلِمهٔ شهادت ئې اولوستله د هغه د پاره **د جَنَّت آته واړه دروازے بيرته کيږي** چې په کومه غواړي داخِل دِ شي."

(سنن دارمي ج۱ ص ۱۹۶ حديث ۷۱۶)

## نظر به کله هم نه کمزورے کيږي

څوک چې د اَودَس نه وروستو آسمان طرف ته ګوري او سورهٔ اِنّآاَنۡزَلۡنٰهُ لولي اِنۡ شَآءَاللّٰه د هغه نظر به کله هُم نه کمزورے کيږي. (مسائِلُ القرآن ص ۲۹۱)

## د اَودَس نه پس د سورۀ قدر لوستلو فضائِل

په حديث مُبارَک کښې دي: ”څوک چې د اَودَس نه پس يو ځل سوره قدر اولولي نو هغه د صِدّيقينو نه دے او چې څوک ئې دوه ځله اولولي نو په شُهَداء کښې به شميرلے شي او چې څوک ئې درې ځله لولي نو اللّٰه به د مَحشر په ميدان کښې هغه د خپلو انبياء (عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُوَالسَّلَام) سره ساتي.

(کنزُ العُمّال ج 9 ص132 حديث 26085. الحاوی لِلفتاوٰی للسيوطی ج1 ص402)

## د اَودَس نه پس د لوستلو دُعا (اول و آخِر درودشريف)

څوک چې د اَودَس کولو نه پس دا کلِمات اولولي: سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِكَ اَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنۡتَ، اَسۡتَغۡفِرُكَ وَاَتُوۡبُ اِلَيۡكَ **ترجمه**: اے اللّٰه! ته پاک ئې او هم ستا د پاره دي ټول صفتونه، زه ګواهي ورکووم چې ستا نه سِوا بل د عبادت لائق نشته، زه ستا نه بخښنه غواړم او ستا په بارګاه کښې توبه کووم. نو په هغې به مُهر اولګولے شي او د عرش نه لاندې به کيښودے شي او د قيامت په ورځ به هغه لوستونکي ته ورکړے شي. (شعب الايمان ج3 ص21 حديث 2754)

## د اَودَس نه پس دا دُعا هم اولولئ (مخکښې وروستو درود شريف)

اَللّٰهُمَّ اجۡعَلۡنِيۡ مِنَ التَّوَّابِيۡنَ وَاجۡعَلۡنِيۡ مِنَ الۡمُتَطَهِّرِيۡنَ

اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ما په کثرت سره توبه کوونکو کښې شامِل کړې او ما په پاکيزه اوسيدونکو کښې شامِل کړې. (جامِع تِرمِذي ج1 ص121 حديث55)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لفظ"اللّٰه" د خلورو حروفو په نِسبت د اَودَس څلور فرض

(1) مخ وينځل (2) د ځنګلو سره دواړه لاسونه وينځل (3) د څلورمه حِصّه سر مسح كول (4) د ګِيټو [يعني پړكو] سره دواړه ښپې وِينځل.

(فَتاوىٰ عالمګيري ج1 ص3، 4، 5، بهارِشريعت ج1 ص288)

## د وينځلو تعريف

د يو اندام د وينځلو دا مطلب دے چې د هغه اندام په هره حصّه كم نه كم دوه څاڅكي اوبه اوبهيږي. صرف لـمديدو ته يا پرېږ اوبه د تيلو په شان مږلو ته يا يو څاڅكے بهيدو ته وينځل نه وائي، په دې شان غُسل او اَودَس نه كيږي. (فَتاوٰي رَضَوِيّه ج1 ص218، بهارِشريعت ج1 ص288)

## " كَرَم يا رَبَّ الْعٰلَمِيْن" د څوارلسو حروفو په نِسبت د اَودَس څوارلس سُنَّتونه

"د اَودَس طريقه (حَنَفي) " كښې د بعضو سُنَّتو او مستحباتو بيان شوے دے، د دې نور وَضاحت اوكورئ: (١) نِيَّت كول (٢٢) بِسۡمِ اللهِ لوستل. كه د اَودَس نه مخكښې بِسۡمِ اللهِ وَالۡحَمۡدُ لِلهِ اولولي نو چې د تر څو پورې ئې اَودَس وي فرښتے به د هغه د پاره نيكۍ ليكي. (٣) دواړه لاسونه د ګيټو [يعني مړوندونو] پورې درې ځله وينځل (٤) درې ځله مسواک كول (٥) په درې چونګه درې ځله خُله وينځل (٦) كه روژه نه وي نو غرغره كول (٧) په دريو چونګو درې ځله پوزه كښې اوبه خيژول (٨) كه كِيره وي (نو د اِحرام

د نه ترلو په حالت كښې) د هغې خِلال كول (۹) د لاس او (۱۰) ښپو د ګوتو خِلال كول (۱۱) د پوره سر صرف يو ځل مَسْحُ كول (۱۲) د غوږونو مَسْحُ كول (۱۳) په فرائِضو كښې ترتيب قائِم ساتل (يعني په فرض اندامونو كښې اول مخ بيا لاسونه د څنګلو سره وينځل بيا د سر مَسْحُ كول او بيا ښپې وينځل) او (۱٤) پرله پسے اَودَس كول يعني د يو اندام د وچيدو نه مخكښې بل اندام وينځل. (بهارشريعت ج 1 ص 293،294 مُلَخَّصاً)

## ”اے خوږ شَهَنْشاهِ مَدِينه اَلصَّلوٰةُ وَالسَّلام“
## د ۲۹ حروفو په نِسبت د اَودَس ۲۹ مستحَبّات

(۱) مخ په قبله (۲) په اوچت ځائے (۳)كښيناستل (٤) د اوبو بهيولو په وخت په اندامونو لاس راښكل(٥) په اطمينان سره اَودَس كول (٦) د اَودَس په اندامونو باندې مخكښې اوبه مرل خاص طور د يخنۍ په موسم كښې (۷) په اَودَس كولو كښې د ضرورت نه بغير د چا نه مدد نه اغستل (۸) په ښي لاس خُله وينځل (۹) په ښي لاس په پوزه كښې اوبه اچول (۱۰) په ګڅ لاس پوزه پاكول (۱۱) د ګڅ لاس كچۍ ګوته په پوزه كښې وهل (۱۲) د ګوتو په شا د څټ مَسْحُ كول (۱۳) د غوږونو د مَسْحُ په وخت كښې لـمدې كچې ګوتې د غوږونو په سُورو كښې وهل (۱٤) ګوتۍ له حركت وركول هله كه سَسته وي او دا يقين ئې وي چې د دې نه لاندې اوبه تيرې شوې، او كه تخښتې وي نو په خوزولو باندې د هغې نه لاندې اوبه بهيول فرض دي.(۱٥) كه معذورِ شرعي (د دې تفصيلي احكام هُم د دې رسالے د

صفحه 40 نه 43 پورې اوګورئ) نه وي نو د لـمونځ د وخت د شروع کيدو نه مخکښې اَودَس کول (١٦) څوک چې په پوره طريقه اَودَس کوي يعني چې د چا يو ځائے هم د اوبو بهيولو نه نه پاتې کيږي د هغه (پوزې طرف ته) د سترګو د ګوټونو، د ښپو د ګِيټو [پړکو]، د پوندو، د تلو، د پوندو نه بره د پيړو پټو، د ګُرتونو او د ځنګلو خاص خيال ساتل او د بے خيالي کوونکو د پاره خو فرض دي چې د دې ځائيونو خاص خيال ساتي ځکه چې اکثر ليدلے شوي دي چې دا ځائيونه وچ پاتې شي او دا د بے خيالئ نتيجه ده داسې بے خيالي حرامه ده او خيال ساتل فرض دي. (١٧) د اَودَس لَوټه ګڅ طرف ته ګرځدئ او که په طشت [يعني ارت لوښي لکه ښانک] يا پتيله وغيره باندې اَودَس کوئ نو ښي طرف ته ئې ګرځدئ (١٨) د مخ وينځلو په وخت کښې په تندي باندې په داسې طريقه اوبه خورې اچول چې د پاس څه حصه هم ورسره وينځلے شي (١٩) د مخ او (٢٠) د لاسو ښپو رنړا خورول يعني [مطلب دا چې] په څومره ځائے اوبه بهيول فرض دي د هغې خوا و شا څه ځائيونه زيات وينځل مثلاً لاس د څنګل نه پاس د مټ د نيمې پورې او ښپې د ګيټو [پړکو] نه پاس د پنډۍ د نيمې پورې (٢١) په دواړو لاسونو مخ وينځل (٢٢) لاس او ښپې وينځلو کښې د ګوتو نه شروع کول (٢٣) د هر اندام وينځلو نه پس د هغې نه د لاس په راښکلو اوبه څڅول چې چرې په بدن يا کپړو اونه څڅيږي خصوصاً چې کله جُمات ته داخليدل وي ځکه چې د جُمات په فرش باندې د اَودَس اوبه څڅول مکروهِ تَحريمي دي. (٢٤) د اَودَس د هر اندام د وينځلو په وخت کښې او د

مَسْحُ کولو په وخت کښې د اَودَس نِيَّت ياد ساتل (۲۵) په شروع کښې د بِسْمِ الله سره سره درود شريف او کَلِمهٔ شهادت لوستل (۲٦) د اَودَس اندامونه د ضرورت نه بغير [په کپړه وغيره] مه اوچوئ او که اوچوئ ئې نو ډير ئې مه اوچوئ، څه لـمدوالے پريږدئ ځکه چې د قيامت په ورځ به [دا لـمد والے] د نيکو په تله کښې اچولے شي (۲۷) د اَودَس نه پس لاس وغـيره مه څنډئ، دا د شيطان پکـے [ببوزے] دے. (۲۸) د اَودَس نه پس په خاختک (يعني د پاجامے [يا پرتوګ] هغه حِصّه کومه چې د بَولو د مقام خوا سره وي) د اوبو څاڅکي کول. (د اوبو څاڅکي کولو په وخت کښې مناسِب دا دي چې خاختـک د کرتے [يا قميص] په لـمن کښې پټ وي او د اَودَس په وخت کښې هُم، بلکه هر وخت خاختـک د کرتے په لـمن کښې يا د څادر وغيره په ذريعه پټ ساتل حيا ته زيات نِزدے دي.) (۲۹) که مکروه وخت نه وي نو دوه رکعاته نفل ادا کول چې هغې ته تَحِيَّةُالْوُضُو وائي. (بهار شريعت ج 1 ص 300293)

## د اَودَس 16مکروهات

(۱) د اَودَس د پاره په ناپاکه ځائے کښې کښيناستل (۲) په ناپاکه ځائے کښې د اَودَس اوبه بهيول (۳) د اَودَس د اندامونو نه په لوټه وغيره کښې اوبه څڅول(د مخ وينځلو په وخت کښې د اوبو نه ډکو لاسونو کښې عام طور د مخ نه د اوبو څاڅکي کيږي د دې خيال ساتئ) (٤) قِبلے طرف ته لاړې، بلغم يا د خُلې اوبه تُوکل (٥) بغير د ضرورت نه د دُنيا خبرې کول (٦) اوبه زياتې لګول. (صدرُالشَّريعه مُفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په ”بهارِشريعت“ جلد اوّل صفحه۳۰۲ او ۳۰۳ کښې فرمائي: په پوزه کښې د اچولو د پاره نيم چونګ کافي دے

نو پوره چونکہ دکول اِسراف دے) (۷) اوبه دومره کمې خرڄ کول چې سُنَّت
پرې ادا نه شي (بهرحال نل مه دومره زيات چالو کوئ چې اوبه د حاجت نه زياتې
توئ شي او مه ئې دومره کم چالو کوئ چې سُنَّت پرې ادا نه شي بلکه چې درميانه
وي.) (۸) مخ په اوبو ويشتل (۹) په مخ اوبه اچولو وخت کښې پوکے کول
(۱۰) په يو لاس مخ وينځل ځکه چې دا د روافِضو او هِندوانو نښه ده (۱۱)
د مرئ مَسْحُ کول (۱۲) په ګڅ لاس خُلې ته يا پوزې ته اوبه اچول (۱۳) په
ښي لاس پوزه پاکول (۱٤) درې ځله اوبو راغستلوسره درې ځله د سر
مَسْحُ کول (۱۵) د لـمر په تَودو اوبو اَودَس کول (۱٦) شونډې يا سترګې
په زوره بندول او که څه وچ پاتې شو نو هغه اَودَس اُو نه شو. د اَودَس هر
سُنَّت پرېښودل مکروه دي دغسې د هر مَکروه پرېښودل سُنَّت دي.

(بهارِ شريعت ج1 ص301300)

## د لـمر د تَودو اوبو وضاحت

صدرُالشَّرِيعه، بدرُالطَّرِيقه حضرت علّامه مولانا مُفتي مُحَمّد امجد علي
اعظمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د **مَکتَبَةُالْمَدِيْنَه** د چاپ شوي **بهارِ شريعت مُخرّجه جلد اوّل د
صفحه 301** په حاشيه کښې ليکي: ”کومې اوبه چې په لـمر تودې شوي
وي په هغې مُطلقاً اَودَس کول مکروه نه دي بلکه په هغې کښې يو څو
قيود [وجهې] شته دے. چې د هغې ذِکر به د اوبو په باب کښې راځي او په
هغې د اَودَس کولو کراهت تنزيهي دے تحريمي نه دے.“ د اوبو د باب په
صفحه ۳۳٤ کښې ليکي: ”کومې اوبه چې په ګرم مُلک کښې په ګرم
موسم کښې [په لـمر باندې] د سرو او د سپينو زرو نه علاوه د [بل هر قسم]

اُوسپني په لوښي کښې تَودې شوې، چې تر څو تَودې وي په هغې اَودَس او غسل نه دي کول پکار، نه هغه ځنبل پکار دي بلکه بدن ته په هیڅ حال کښې رسیدل نه دي پکار، تر دې چې که په هغې کپړه لـمده شي نو چې تر څو يخه شوې نه وي د هغې د اغوستلو نه ځان ساتئ ځکه چې د دې اوبو په استعمال کښې د برص (يعني په بدن باندې د سپين داغ د مرض) [يعني برګي مرض] ويره ده، بيا هم که چا پرې اَودَس او غسل اوکړو نو اوشو." (بهارِ شريعت ج١٢ص٣٠١، ٣٣٤)

## د مُستعمَلو اوبو اهم مسئَله

که د بے اَودَسه کس لاس يا ګوته يا د ګوتې بند يا نُوک يا د بدن هغه يوه حِصّه چې په اَودَس کښې وينځلے شي قصداً يا په هيره سره د "دَه دَر دَه" (10×10) [يعني ١٠٠ شرعي ګز] نه کمو اوبو (مثلاً د اوبو نه ډک بالټې يا لوټه وغيره) کښې پريوځي نو اوبه **مُستَعْمَل** (يعني استعمال شُده) شوې او اوس د اَودَس يا غسل کولو لائِق پاتې نه شوې. هُم دغه شان چې په چا باندې غسل فرض وي د هغه د بدن کومه ناوينځلې شوې حصّه که په اوبو کښې اولګي نو هغه اوبه د اَودَس او د غسل د کار پاتې نه شوې. خو که وينځلے شوے لاس يا د بدن بله کومه وينځلې شوې حصّه پکښې اولګي نو څه باک نشته. (بهارِشريعت ج1ص333) (د مستعمَلو اوبو، د غسل او د اَودَس تفصيلي احکام زده کولو د پاره بهارِشريعت ج1 حصّه 2 اولولئ)

## خاورو سره ګډو اوبو باندې اَودَس کيږي که نه؟

❖ په اوبو کښې که شګه يا خټې ګډې شي نو تر څو چې رقيق (يعني نرئ) وي په هغې اَودَس جائِز دے. اَقُول (اعلٰي حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي چې: "زه وايم") خو بے ضرورته په ختو کښې ګډو (اوبو) باندې اَودَس کول منع دي ځکه چې دا مُثله يعني شکل ورانول دي او دا شرعاً حرام دي. (فَتاوٰي رضَوِيّه ج4 ص650) (معلومه شوه چې په مخ په داسې شان خاوره پورې کول چې شکل وران شي يا مخ تورول، څنګه چې کله کله د غل مخ په سکارو وغيره باندې تور کړې دا حرام دي، قصداً د کافِر مُثله کول يعني مخ ورانول هم جائِز نه دي) ❖ په کومو اوبو کښې چې څه بدبوئ لرونکے څيز ګډ شي په هغې باندې اَودَس کول مکروه دي خصوصاً که د هغې بدبوئي په لـمانځه کښې هم پاتې وي ځکه چې (په دې به لـمونځ) مکروهِ تحريمي شي. (فَتاوٰي رضَوِيّه ج4 ص650)

## پان خوړونکي تَوَجُّه اوکړئ

**اعلٰي حضرت،** امامِ اَهلِسُنَّت اِمام اَحمَد رَضا خان رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د پانونو په کثرت سره خوړلو والا خُصوصاً چې کله ئې په غاښونو کښې چاودې جُدا جُدا وي، په تجربه سره پوهيږي چې د چاليه وړې وړې ذرّے او د پان بالکل وړې وړې ټُکړے د خُلې په ډډو او ګوټونو کښې داسې ځنبلې چې درې څه بلکه کله کله لس دولس ځله خُله وِينځل هم د دې د تصفِيهِٔ تام (يعني مکمّله صفائي) د پاره کافي نه وي، نه د خِلال سره هغه اوځي او نه د مسواک سره، سِوا د دې نه چې اوبو له په خُله کښې

حرکت ورکړے شي او هغه د غاښونو په سُورو کښې اوځي ننوځي او لرې لرې ذرّے راخلاصوي، د دې هم څه تَحدِيد (يعني حد بندي) نه شي کيدے او دا کامِله تصفِيّه (يعني مکمله صفائي) هُم ډيره مُؤَکد ده (يعني د دې ډير سخت تاکيد دے) په ډيرو حديثونو کښې ارشاد شوے دے چې کله بنده په لـمانځه اودريږي نو فرښته د هغه په خُله باندې خپله خُله کيږدي دا چې څه لولي هغه د ده د خُلې نه اوځي او د فرښتے په خُله کښې داخليږي، په دغه وخت کښې که څه د خوراک څيز د ده په غاښونو کښې وي نو د هغې نه فرښتے ته داسې سخت تـکليف رسي چې بل د يو شي نه هم [دومره تـکليف] نه ور رسي.

**حُضورِاکرم** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي، چې کله په تاسو کښې څوک د شپې په لـمانځه اودريږي نو پـکار ده، چې مسواک اوکړي ځکه چې هغه کله په خپل لـمونځ کښې قِراءَت کوي نو فرښته خپله خُله د هغه په خُله باندې کيږدي او څه شے چې د ده د خُلې نه اوځي هغه د فرښتے په خُله کښې داخِليږي. (شعب الايمان ج٢ ص٣٨١ حديث:٢١١٧) او طَبَراني په کبِير کښې د حضرتِ سَيِّدُنا ابو ايُّوب انصاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت کړے دے چې په دواړو فرښتو باندې د دې نه زيات څه څيز سخت نه وي چې هغوئي خپل ملګرے په لـمانځه اووينې او د هغه په غاښونو کښې د خوراک ذَرے نخښتې وي.

(المُعجِمُ الکبير ج ٤ ص١٧٧، حديث:٤٠٦١ ، فَتَاوٰي رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج١ ص٦٢٤تا٦٢٥)

## دَ تَصَوُّف عظيمه مَدَني نُسخه

حُجَّةُ الاسلام امام محمّد غزالي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: ”د اَودَس نه د فارِغ کيدلو نه پس چې کله تاسو لـمانځه طرف ته مُتَوَجِّه شئ نو هغه وخت دا تَصَوُّر اوکړئ چې په کومو ظاهِري اندامونو چې د خلقو سترګې لګي هغه خو په ښکاره طاهِر (يعني پاک) شوي دي خو د زړه د پاکولو نه بغير په بارګاهِ اِلٰهي کښې مُناجات [يعني دُعا] کول د حيا خِلاف دي ځکه چې اللّٰه تعالیٰ د زړونو لِيدونکے هم دے. نور فرمائي: د ښکاره [بدن] اَودَس کوونکو لره دا خبره هم ياده ساتل پکار ده چې د زړه طهارت (يعني صفائي) په توبه کولو او د ګُناهونو په پريښودو او د ښو اخلاقو په اختيارولو کيږي. ځوک چې زړه د ګُناهونو د ګند نه نه پاکوي، صرف ښکاره طهارت (يعني صفائي) او ډول سِنګار کافي ګنړي د هغه مثال د هغه کس په شا ن دے ځوک چې بادشاه له دعوت اوکړي او خپل کور د باهر نه ښه ښکلے کړي او رنګ روغن ئې اوکړي خو د کور د دننه حصّے په صفائي باندې هيڅ توجُّه ورنکړي، چې کله بادشاه د هغه کور ته ورداخل شي اوګندونه اووينې نو هغه به خفه کيږي که خوشحاليږي به، په دې هر عقلمند پخپله پوهيدے شي.“ (اِحياءِ العلوم جلد۱ص ۱۸۵ مُلخّصاً)

## د زخم وغيره نه د ويني وتلو پينځه احکام

(۱) وِينه، نَو يا زيړې اوبه د څه ځائے نه اووتې او اوبهيدې او د هغې په بهيدلو کښې داسې ځائے ته د رسيدلو صلاحيّت وو کوم ځائے چې په

اَودَس يا غسل كولو كښې وِينځل فرض دي نو **اَودَس مات شو.** (بهارِ شريعت ج١ ص٣٠٤) (٢) وينه كه اوځليدله يا هسې راپورته شوه خو اونه بهيدله لكه څنګه چې [كله څه ځائے] د ستني په څوكه يا د چاقو په ډډه اولړي او وينه هسې غوټه شي يا وځليږي، يا د خِلال كولو يا مسواک كولو سره يا په ګوته باندې د غاښونو د مږلو سره يا په غاښ باندې د څه څيز مثلاً سيب وغيره نه چک كولو سره په هغې باندې څه د وينې اثر ښكاره شو يا په پوزه كښې د ګوتې وهلو سره په هغې د وينې سُرخي راغله خو [په دې ټولو صورتونو كښې] كه هغه وينه د بهيدلو قابله نه وه نو **اَودَس مات نه شو.** (ايضًا) (٣) كه اوبهيدله خو داسې ځائے ته رانغله كوم ځائے چې په اَودَس يا غسل كولو كښې وينځل فرض وي مثلاً په ستركه كښې دانه وه او ماته شوه او دننه خوره شوه باهر را ونوتله، او نَو يا وِينه د غوږونو په سُورو كښې دننه پاتې شو نو په دې صورتونو كښې اَودَس مات نه شو. (ايضًا ص٢٧) (٤) زخم كه هر څومره غټ وي او لـمدوالے پرې هم ځليږي خو چې تر څو بهيدلې نه وي اَودَس پرې نه ماتيږي (ايضًا) (٥) د زخم وِينه بيا بيا په وچولو سره كه د بهيدلو نوبت رانغلو نو سوچ اوكړئ چې دا څومره وينه ترينه پاكه شوي ده كه دا مو نه پاكولے نو دا به بهيدلې وه نو اَودَس مات شو. كه [د بهيدلو همره به] نه وه نو [مات] نه [شو]. (ايضًا)

## که د ېخنئ نه اندامونه چاودلي وي نو....

د ېخنئ وغيره نه که اندامونه چاودلي وي، که وينځلے ئې شي نو اُو دِ ئې وِينځي،که ېخې اوبه نقصان کوي نو که تَودَوَلے ئې شي نو واجب دي، او که تَودې هم نقصان کوي نو مسح دِ اوکړي، که مسح هم نقصان کوي نو په هغې باندې چې کومه پټئ يا د دوائي مخ [اخيرِ، ليو] لګيدلے دے په هغې دِ اوبه اوبهيوي، که دا هم نقصان کوي نو د هغه پټئ يا [د دوائي په هغه] مخ [اخيرِ، ليو] په ټول دِ مَسۡحُ اوکړي. که د دې نه هم نقصان کيږي نو نه دِ ئې کوي، معاف دہ. (فتاوٰی رضويه ج 4 ص 620)

## په اوداسه کښې د نکريزو او رانجو مسئَله

(1) که د زنانه په لاسونو او ښپو د نکريزو پاترے پاتې شو او پرې پوهه نه شوه نو اَودَس او غسل به اوشي. خو چې کله پرې پوهه شي نو لرې دِ ئې کړي او په هغه ځائے دِ اوبه اوبهيوي. (فتاوٰی رضويه ج4ص613) (2) که رانجه د سترګې په ګوټ کښې په بانړه پورې پاتې شو او پرې پوهه نه شو نو ظاهِراً پکښې باک نشته او د لـمانځه نه پس که د سترګي په ګوټ کښې محسوس شوه نو اصلاً باک (يعني بالکل ويره) نشته (مطلب دا چې لـمونځ اوشو) (ايضًا)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په اِنجِکشن لګيدلو اَودَس ماتيږي که نه؟

(1) په غوښه کښې د انجکشن لګولو سره به صِرف په دې صورت کښې اَودَس ماتيږي چې د بهيدلو په مقدار وِينه اوځي. (2) د رګ د ستنې په لګولو کښې اول بره طرف ته وِينه راښکاري او هغه د بهيدلو په مقدار وي لِهٰذا د هغې سره اَودَس ماتيږي (3) هم دغسې د ګلوکوز وغيره ډرِپ په رګ کښې د لګولو سره به هم اَودَس مات شي ځکه چې د بهيدلو په مِقدار وِينه اوځي او نلکۍ ته راشي. خو که د بهيدلو په مقدار وِينه نلکۍ ته رانه شي نو اَودَس نه ماتيږي (4) د سِرِنج په ذريعه د ټيسټ کولو د پاره د وينې ويستلو سره اَودَس ماتيږي ځکه چې دا د بهيدلو په مقدار کښې وي او دا وِينه د بَولو په شان ناپاکه هم ده د دې وينې ډک بوتل چې په جيب کښې وي او لـمونځ ئې اوکړو نو اونه شو، د وينې او د بَولو بوتل که په ښه طريقه بند وي نو هم جُمات ته ئې نه شي راوړے، که را ئې وړو نو ګنهګار به شي.

## د خُوګ سترګې اوښکې

(1) د سترګې د بيمارۍ په وجه چې کومې اوښکې د سترګو نه اوبهيږي هغه ناپاکه دي او اَودَس به هم ورسره مات شي. (بهارِ شريعت ج۱ص۳۱۰) افسوس! اکثر خلق د دې مَسئَلے نه ناخبره وي او د خوګ سترګې نه د مرض په وجه بهيدونکې اوښکې د نورو اوښکو په شان ګنړي او په لِستونړې يا د

کرتے [قميص] په لـمن ئې وچوي او جامے پرې ناپاکه کوي. (2) د نابينا د سترګې نه چې کوم رطوبت [يعني لـمدوالے] د مرض په وجه اوځي هغه ناپاکه دے او په هغې اَودَس هم ماتيږي. (ماخوذ از بهارِ شريعت ج۱ ص ۳۰۶)

## پاک او ناپاک رُطُوبت (لـمدوالے)

کوم رُطُوبت [يعني لـمدوالے] چې د انساني بدن نه خارج شي او اَودَس نه ماتوي هغه ناپاکه نه دے، مثلاً وِينه يا نَو، چې بهر اونه بهيږي يا لړې شان اُلتېځ چې په ډکه خُله نه وي. (بهارِ شريعت ج۱ ص۳۰۹)

## تنړاکه [دانه، پونړاکه] او پولۍ

(1) پولۍ ئې اوشوکوله که د هغې اوبه اوبهيدلې نو اَودَس مات شو ګني نه [يعني که د بهيدو په مقدار نه وي نو مات نه شو] (بهارِ شريعت ج۱ ص۳۰۵) (2) دانه بالکل ښه شوه او د هغې مړه څرمن پاتې ده د هغې پاس طرف ته خُله ده او دننه ډېره [يعني تشه] ده، که هغه د اوبو نه ډکه شوه او په زور کولو ترينه [اوبه] خارج شوې نو نه اَودَس مات شو او نه هغه اوبه ناپاکه دي خو که په هغې کښې څه لـمدوالے د وينې وغيره وي نو بيا اَودَس هم مات شو او هغه اوبه هم ناپاکه دي. (فتاوي رَضَويه ج۱ ص۳۵۵، ۳۵۶) (3) که په خارخت يا پولو کښې بهيدونکے رطوبت [يعني لـمدوالے] نه وي صرف [دومره وي چې په جامو پورې] نخښلي، او جامے د هغې سره بيا بيا لګي تر دې چې [د دې په لګيدو لګيدو] هر څومره ګلګه شي پاکه ده. (بهارِ شريعت ج۱ ص۳۱۰) (4) پوزه ئې

پاکه کړه په هغې کښې وچه شوې وِينه را اووتله، اَودَس مات نه شو، اَنسَب (يعني زيات مُناسِب) دا دي چې اَودَس دِ اوکړي. (فتاوٰي رضويه ج۱ ص۲۸۱)

## په ګرځون کولو اَودَس کله ماتيږي؟

په ډکه خُله ګرځون [يعني اُلتيئ] د خوراک، اوبو يا صَفرا (يعني د زيړ رنګ ترخو اوبو) اَودَس ماتوي، کومې اُلتيئ چې په آسانئ سره څوک نه شي حصارولے هغې ته په ډکه خُله اُلتيئ وائي. په ډکه خُله اُلتيئ د بَولو په شان ناپاکه وي د دې د څاڅکو نه خپلې جامے او بدن بچ ساتل ضروري دي. (ماخوذ از بهارِ شريعت ج۱ ص۳۰۶، ۳۹۰ وغيره)

## د خندا احکام

(1) د رُکوع او سُجود والا لـمانځه کښې بالِغ په دومره آواز کښې وخندل چې خوا و شا والؤ واوريده نو اَودَس ئې هم مات شو او لـمونځ ئې هم مات شو، او که په دومره آواز کښې ئې وخندل چې صرف ځپله ئې واوريده نو لـمونځ ئې مات شو خو اَودَس ئې مات نه شو، د مُسکـې کيدو سره نه لـمونځ ماتيږي او نه اَودَس، په مُسکـې کيدو کښې آواز بالکل نه وي صرف غاښونه ښکاره شي. (مراقي الفلاح ص64) (2) بالِغ د جنازے په لـمونځ کښې قَهقَهه اولګوله [يعني په دومره آواز کښې ئې وخندل چې خوا و شا والؤ اوريدے شوه] نو لـمونځ ئې مات شو خو اَودَس ئې مات نه شو. (ايضاً) (3) د لـمانځه نه علاوه قَهقَهه لګولو [يعني په زوره خندا] سره اَودَس نه ماتيږي خو بيا اَودَس کول مُستحب دي. (مراقي الفلاح ص۶۰) زمونږ خوږ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هم

قهقهه نه ده لګولي [يعني کله ئې هم په زوره نه دي خندلي] لِهٰذا مونږ له هم کوشش کول پکار دي چې دا سُنَّت هم ژوندي شي او مونږه په زوره زوره نه خاندو. **فرمانِ مُصطفيٰ** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَلْقَهْقَهَةُ مِنَ الشَّيْطٰنِ وَالتَّبَسُّمُ مِنَ اللهِ تَعَالٰي يعني قَهقَهه د شيطان له طرفه ده او مُسکـي کيدل د الله تعالیٰ له طرفه دي.**

(اَلمُعجَمُ الصَّغيرلِلطَّبَراني ج ۲، ص ۱۰٤)

## آيا د سَتر په ليدلو اَودَس ماتيږي؟

په **عوامو** کښې دا خبره مشهوره ده چې د زنګون يا سَتر په ښکاره کيدو او خپل يا د بل چا سَتر ته په کتلو اَودَس ماتيږي دا بالکل غلط دي. خو د اَودَس په آدابو کښې دي چې د نامه نه واخله د دواړو زنګونانو سره تول سَتر پټ وي بلکه د استنجا نه پس فوراً پټول پکار دي، ځکه چې د ضرورت نه بغيرسَتر ښکاره ساتل منع او د نورو په مخکښې سَتر ښکاره کول حرام دي. (بهارِشريعت ج1 ص309)

## د غُسل اَودَس کافي دے

د **غسل** د پاره ئې چې کوم اَودَس کړے وو هُم هغه کافي دے، بيا که په بربنډه هُم اولامبي، نو بيا هم د غسل نه وروستو اَودَس کول ضروري نه دي بلکه که اَودَس ئې هم نه وو کړے نو د غسل کولو سره د اَودَس په اندامونو باندې هم اوبه بهيږي ځکه اَودَس هم اوشو، د کپړو بدلولو سره هم اَودَس نه ماتيږي.

## په لاړو کښې وِينه

(1) د خُلې نه وينه اووتله که په لاړو باندې غالبه [يعني زياته] وې نو اَودَس مات شو کنې نه [يعني که غالبه نه وې نو مات نه شو] د غلبے نښه داده چې که د لاړو رنګ سور شو نو وِينه به غالبه ګڼړلے شي او اَودَس به مات شي، دا سرے لاړې ناپاکه هم دي. که لاړې زيړې وې نو په وينه به لاړې غالبې منلے شي، لِهٰذا اَودَس مات نه شو او دا زيړې لاړې هم ناپاکه نه دي. (بهارشريعت ج۱ص۳۰۵) (2) د خُلې نه دومره وِينه اووتله چې لاړې پرې سرے شوې او لَوټے يا ګلاس ته ئې خُله اولګوله او د خُله پاکولو د پاره ئې ترينه اوبه په خُله کښې واغستې نو لوټه ګلاس او ټولې اوبه نَجِس [يعني ګنده، ناپاکه] شوې لِهٰذا په داسې موقع باندې په لاس کښې اوبه اخلئ او په احتياط سره خُله پاکوئ او دا احتياط هم کوئ چې ستاسو جامو ته څاڅکې اونه شي.

## په اَودَس کښې د شک راتلو پينځه احکام

(1) که د اَودَس کولو په دوران کښې درته د کوم يو اندام په وينځلو کښې شک شي او دا د ژوند وړومبئ واقعه وي نو هغه اُووِينځئ او که اکثر درته شک پريوځي نو د دې طرف ته توجّه مه ورکوئ. او که هم دغسې درته د اَودَس نه وروستو هم شک پريوځي نو د دې هيڅ پرواه مه کوئ. (بهارِشريعت ج1ص310) (2) ستاسو اَودَس وو او بيا هم شک پيدا شو چې معلومه

نه ده چې اَودَس مې شته او که نه، په داسې صورت کښې ستاسو اَودَس شته دے ځکه چې صرف په شک اَودَس نه ماتيږي. (ايضاًص311) (3) د وسوسے په صورت کښې احتياطًا اَودَس کول احتياط نه دے بلکه د شيطان اِتّباع ده [يعني د شيطان منل دي] (ايضاًص311) (4) يقيناً د هغه وخته پورې ستاسو اَودَس قائِم دے تر څو چې د اَودَس دماتيدو داسې [پوخ] يقين اونه شي چې قسم پرې کولے شئ. (5) يو اندام د وينځلو نه پاتې شوے دے خو دا ياد نه دي چې کوم يو اندام وو نو ګڅه ښپه اُووِينځئ. (درمختارج1ص310)

## د اُوده کيدو سره د اَودَس د ماتيدو او نه ماتيدو بيان

په اوده **کيدو** د اَودَس ماتيدو دوه شرطونه دي: ﴿۱﴾ چې دواړه سُرِين [يعني د کيناستلو دواړه طرفونه] جوخت لګيدلي نه وي. ﴿۲﴾ په داسې حالت اوده شو چې د غفلت سره په اوده کيدو کښې رُکاوټ نه وي. چې کله دواړه شرطونه جمع شي يعني چې سُرِين هم په صحيح طريقه جوخت نه وي لګيدلي او په داسې حالت کښې اُوده شوے وي چې د غفلت سره په اوده کيدو کښې رُکاوټ نه وي نو د داسې اُوده کيدو سره اَودَس ماتيږي. او که يو شرط موجود وي او بل شرط موجود نه وي نو اَودَس نه ماتيږي.

## د اوده کيدو هغه لس طريقے چې د هغې سره اَودَس نه ماتيږي

﴿۱﴾ په داسې طريقه اوده کيدل چې دواړه سُرِين په زمکه جوخت لګيدلي وي او دواړه ښپې ئې يو طرف ته خورے کړي وي. (په کرسئ، او د ريل او د بس په سِيټ د ناستې هم دا حکم دے) ﴿۲﴾ په داسې شان اوده کيدل چې

سُرِين په زمکه جوخت لګيدلي وي او دواړه پنډۍ د دواړو لاسو په حلقه [يعني ګَيره] کښې اونيسي اګر که لاس په زمکه وغيره باندې يا سر په زنګونانو کيږدي ﴿۳﴾ پلَتۍ [يعني پرلت] اووهي او کښيني که په زمکه وي او که په تخت وي او که په کټ وغيره کښې وي ﴿٤﴾ د اَلتَّحِيّات په شان سم ناست وي ﴿٥﴾ په آس يا قچر وغيره باندې په زِين د پاسه ناست وي ﴿٦﴾ د [څاروي] په بربنډه ملا ناست وي خو چې څاروے مخ په بره خيژي يا لار هواره وي. ﴿٧﴾ بالښت ته ئې په داسې طريقه ډډه وهلې وي چې سُرِين ئې صحيح جوخت لګيدلي وي اګر چې د بالښت لرې کولو سره دے اولويږي ﴿٨﴾ چې ولاړ وي ﴿٩﴾ چې د رُکوع په حالت کښې وي ﴿١٠﴾ د سُنَّت مطابق څنګه چې نارِينه سجده کوي چې داسې سجده اوکړي چې خيټه ئې د ورنونو نه او مټې ئې د ډډو نه جُدا وي دا ذِکر کړے شوي حالتونه که په لـمانځه کښې پيښ شي او که د لـمانځه نه بهر، نو اَودَس ورسره نه ماتيږي او نه ورسره لـمونځ ماتيږي اګر که ارادتاً اُوده شي، البَتَّه چې کوم رُکن ئې بالکل په اُودو ادا کړو د هغې اِعاده (يعني بيا کول) ضروري دي او که په ويښه ئې شروع کړے وو او بيا خوب ورغلو نو چې کومه حصه ئې په ويښه ادا کړه هغه ادا شوه بقيه به اداکول وي.

## د اوده کيدو هغه لس طريقے چې په کومو اَودَس ماتيږي

(1) د ښيو په سر داسې ناست وي چې دواړه زنګونان ئې ولاړ وي (2) داسې ملاست وي چې ملا ئې لګيدلي وي (3) داسې اوده وي چې

خيټه ئې لګيدلې وي (4) په ښئ يا ګټه ډېره ملاست اوده وي. (5) په يو ښنګل ئې ډېره وهلې وي او اوده وي (6) په ناسته داسې اُوده وي چې يو طرف ته ټيټ شوے وي چې د هغې په وجه ئې يو يا دواړه سُرِين اوچت شوي وي (7) [د ښاروي] په لغړه ملا سور [اوده شوے] وي او ښاروے مخ په ښکته کوزيږي (8) خيټه ئې په ورنونو لګولې وي او داسې اوده وي چې سُرِين ئې جوخت نه وي لګيدلي. (9) چې پرلت ئې وهلے وي او داسې ناست وي چې سر ئې په ورنونو يا په پنډو ايښودے وي [او اوده وي](10) ښنګه چې زنانه سجده کوي په دغه انداز سجده کښې اوده شو چې خيټه ئې د ورنونو سره او متې ئې د ډېرو سره لګيدلي وي يا ئې مړوندونه په زمکه خواره پراته وي. دا ذِکر کړے شوي حالتونه که په لـمانځه کښې پيښ شي او که د لـمانځه نه علاوه، اَودَس پرې ماتيږي. بيا په دې صورتونو کښې که قصداً اوده شوه نو لـمونځ ئې فاسِد [يعني مات] شو او که بِلا قصد [يعني بے اِراده] اوده شوه نو اَودَس ئې مات شو خو لـمونځ ئې مات نه شو. د اودس کولو نه پس [د مخصوصو شرطونو سره] باقي لـمونځ په هم هغه ځائے کولے شي په کوم ځائے چې خوب ورغلے وو. که شرائِط ورته نه وي معلوم نو د سره دِ بيا لـمونځ اوکړي. (ماخوذازفتاوٰيٰ رَضَويه ج١ص٣٦٥ ته ٣٦٧)

## د انبياءِ کرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُوَالسَّلَام اَودَس او خوب مبارک

د انبياءِ کرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُوَالسَّلَام اَودَس په اوده کيدلو نه ماتيږي. **فائِده:** د انبياءِ کرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُوَالسَّلَام سترګې اُودې کيږي، زړه ئې کله هم نه

اوده کيږي. (1) د اَودَس بعضې نواقِص (يعني د اَودَس ماتولو څيزونه) د انبياءِ کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د پاره د اَودَس د ماتولو سبب نه وي ځکه چې د هغې کيدل د هغوئي د پاره مُحال دي (يعني هډو کيدے نه شي) لکه جُنون [يعني ليونتوب] يا په لـمانځه کښې قهقهه [خندا] (2) بيهوشي هم د انبياءِ کرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په ظاهري بدن راتلے شي، زړه مُبارک به ئې په دې حالت کښې هم بيدار او خبردار وو. (فتاوٰی رَضَويه مُخرَّجه ج 4 ص 740)

## د جُماتونو اَودَس خانے

مسواک کولو سره بعضې وخت د غاښونو نه وِينه راځي او لاړې هم د سُور والي په وجه ناپاکه شي، خو افسوس چې خلق احتياط نه کوي. د جُماتونو د اَودَس خانے نالئ هم اکثر کمې جوړې وي چې د هغې په وجه جامو او بدن ته د سرو لاړو د خُلې د اوبو څاڅکي کيږي او د کور د غسل خانے په پوخ فرش باندې د اَودَس کولو سره د دې نه هم زيات څاڅکي کيږي.

## په کور کښې اَودَس خانه جوړه کړئ

نن صبا په بيسن [يعني د لاس وينځلو په ځائے] کښې په ولاړه ولاړه د اَودَس کولو رواج دے او دا خلافِ مُسْتَحَب دي. افسوس! خلق د سهولتونو نه ډکې غټې غټې بنګلے خو جوړوي خو په هغې کښې د اَودَسونو [جُدا] ځائے نه جوړوي. د سُنّتو درد لرونکو اسلامي ورونړو په خدمت کښې مدني عرض دے چې که کيدے شي نو په خپل کور کښې کم نه

کم د يوے تهوتيځ د اَودَس ځائے ضرور جوړ کړئ. په دې کښې دا احتياط ضرور ساتئ چې د تهوتيځ داره سِيده په فرش باندې د لګيدو په ځائے په زوَرِي [يعني ښوَينده ځائے باندې] لګې که نه وي نو د غاښونو نه د وينې وغيره راتلو په صورت کښې به هم هغه د څاڅکو لګيدو مسئَله جوړيږي. که تاسو محتاط اَودَس خانه جوړول غواړئ نو هم د دې رِسالے شاته ورکړې شوې نقشے نه مدد واخلئ. په ډبليو سي (W.C) کښې په اوبو باندې د استنجا کولو سره عام طور د دواړو ښپو ګِيټو [پړکو] طرف ته څاڅکي کيږي لِهٰذا د فراغت نه پس احتياطاً د ښپو دا حصّے وينځل پکار دي.

## د اَودَس خانے جوړولو طريقه

د کور د يو نل اَودَس خانے ټول پيمائِش يعني اُوګږدوالے دوه نيم څلويښت اِنچې او پلن والے ئې پاؤ کم پنځوس اِنچې اوچت والے د زمکې نه پاؤ کم څوارلس اِنچې، په هغې د پاسه ووه نيمې اِنچې نور د ناستې سِيټ د هغې عرض (يعني پلن والے) دوه نيم ديرش اِنچې او اُوګږدوالے د يو سر نه واخله د بل سره پورې يعني د پوړئ په شان، د دې ناستې د سِيټ او د مخامخ ديوال د مينځ فاصله 25 اِنچ، مخې طرف ته داسې چړن [زوَرِے] (Slope) جوړ کړئ چې نالئ د ووه نيم اِنچه نه زياته اَرته نه وي، د ښپو ايښودو د ځائے د ښپو د اُوګږدوالې نه معمولې زيات مثلاً چه ټول پاؤ باندې يوولس اِنچې وي، د ټول ځائے مخې ته حصه څلور نيمې اِنچې زِيګ اوساتئ چې په هغې باندې خِيرے لرې کولو د پاره ښپې

مرلے شي (خاص طور په ېخنۍ کښېږ). د L (ايل) يا U (يُو) په شان "مِکسچرنَل" [يعني ټوټۍ] د نالۍ د زمکې نه 32 اِنچې پاس اولګوئ، د دې ترکيب داسې جوړ کړئ چې د اوبو داره په ښوينده ځائے (يعني Slope) باندې پريوځي او ستاسو د پاره به د غاښونو د وينې وغيره نجاست نه بچ کيدل اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ آسان شي. د معمولي تبديلۍ سره په ځماتونو کښې هم په دې ترکيب سره اَودَس خانے جوړيدے شي.

**نوټ**: که چرې ټاټلونه لګوئ نو په ښوَينده ځائے باندې سپين ټاټلونه اولګوئ چې که چرې د مسواک کولو سره د غاښونو نه وينه راشي نو چې په لاړو وغيره کښې ښکاري.

## د "يا رَسُولِ خدا" د نهه حُروفو په نِسبت د اَودَس خانے 9 مدني ګلونه

﴿۱﴾ که کيدے شي نو هم د دې رِسالے شاته ورکړے شوي نقشے نه رهنمائي حاصله کړئ او په خپل کور کښې اَودَس خانه جوړه کړئ.

﴿۲﴾ (د ګيلکار دليلونه مه منئ او) د ورکړ شوي نقشے مطابق په کور کښې د جوړې شوي اَودَس خانے د پاسني (يعني د ښپو د ايښودو د) فرش ليول دوه انچه مخ په ښکته ((Slope اوباسئ.

﴿۳﴾ که د يو نه زيات نلونه لګول غواړئ نو د يو نل نه د بل نل پورې د 25 اِنچه فاصله پريږدئ.

﴿٤﴾ د اَودَس خانے تهوتېۍ [د اُوګړدولو د پاره د تهوتېۍ نه مخکښې] د ضرورت مطابق نِيل اولګوئ.

﴿٥﴾ که پائِپ د ديوال د باهر نه لګوئ نو حسبِ ضرورت د ناستې سِيټ يو يا دوه اِنچ نور شا ته کړئ .

﴿٦﴾ غوره دا ده چې اول ئې کچه جوړ کړئ او يو دوه ځله په هغې کښينئ يا پرې اَودَس اوکړئ او په ښه طريقه ئې اوګورئ، د هغې نه پس ئې بيا پوخ کړئ.

﴿٧﴾ د اَودَس خانے يا د حَمام وغيره په فرش که ټائِلونه لګوئ نو زاګه ( Slip Resistance Tiles) ټائيلونه پرې لګوئ چې د ښوئيدو خطره کمه شي.

﴿٨﴾ د ښپو ايښودو د ځائے سر او د هغې سره ښکته د زوَړي ځائے کم نه کم دوه دوه اِنچه حصے باندې ټائل مه لګوئ بلکه هغه حصه په سيمنټو ښه زِيګه او ګول جوړه کړئ چې ضرورتاً پرې د ښپو نه خيرے لرې کولو د پاره ښپې مږلے کيږي..

﴿٩﴾ د پخلي ځائے، غسل خانه، د بيتُ الخلا فرش، ارت انګنړ [صحن، غولے]، چت، د جُمات اَودَس خانه او کوم کوم ځائے چې د اوبو د بهيولو ضرورت پريوځي د هغه ځائيونو د فرش مخ په ښکته (Slope) چې درته کيلګار خومره اووائي د هغې نه يو په يوه نيمه (مثلاً که هغه دوه اِنچه اووائي نو تاسو ئې درې اِنچ) کړئ. کيلګار خو به هم دا وائي چې تاسو فِکر مه کوئ يو

ځاځکے اوبه به هم نه اودريږي،که تاسو د هغه په خبرو کښې راغلئ نو کيدے شي چې مخ په ښکته سلوپ به صحيح جوړ نه شي لِهٰذا که د هغه په خبره اِعتِماد اونکړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د دې فائده به تاسو پخپله اووينئ ځکه چې مُشاهِده هم دا ده چې اکثر په فرش وغيره باندې ځائے په ځائے اوبه ولاړې وي.

## د چا چې اَودَس زر ماتيږي د هغه د پاره شپږ احکام

﴿۱﴾ [ د بَولو وغيره] د ځاځکي راتلو، د شا طرف نه هوا خارج کيدو، د زخم د بهيدو، د خُوګ سترګې نه د مرض په وجه اوښکې بهيدلو، د غوږ، نوم، سينے نه د اوبو وتلو، د دانے يا ناسُور نه رطوبت [يعني لـمدوالے] بهيدلو او د دست راتلو سره اَودَس ماتيږي که چا ته داسې مرض مسلسل جاري وي او [د لـمانځه د وخت] د شروع نه د آخره پورې يو وخت تير شو چې د اَودَس سره ئې فرض لـمونځ ادا نه کړے شو هغه شرعاً مَعذور دے. په يو اَودَس باندې په هغه وخت کښې چې خومره لـمونځونه غواړي و دِ ئې ئې کړي. د هغه اَودَس به په دې مرض نه ماتيږي. (بهارشريعت ج1ص385.درمختارو ردالمحتارج1ص553)

دا مسئله په آسانو لفظونو کښې د بيانولو کوشش کووم. داسې قسم مريض او مريضه دِ د خپل عُذرِ شَرعي کيدو يا نه کيدو اندازه داسې اوکړي چې د دوو فرض لـمونځونو د مينځ په وخت کښې دِ کوشش اوکړي چې اَودَس اوکړي او د پاکئ سره کم از کم فرض لـمونځ ادا کړے شي.

د پوره وخت په مينځ کښې د بيا بيا کوشش کولو باوجود که دومره مهلت نه وو، هغه داسې چې کله خو د اَودَس په مينځ کښې عُذر لاحق شي او کله د اَودَس مکمل کيدو نه وروسته د لـمانځه په ادا کولو کښې، تر دې چې آخري وخت راغـے نو بيا هغوئي ته اجازت دے چې اَودَس اوکړي او لـمونځ ادا کړي، لـمونځ به اوشي، بيا که د لـمانځه په دوران کښې د بيمارئ په وجه د بدن نه نجاست هم خارج کيږي [لـمونځ به اوشي]. فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام فرمائي: که د چا پوزه ماته شوه يا د هغه زخم په بهيدو شو نو هغه دِ د آخري وخت انتظار اوکړي که وِينه بنده نه شي (بلکه که مسلسل يا ساعت په ساعت جاري وي) نو د وخت د وتلو نه دِ مخکښې اَودَس اوکړي او لـمونځ دِ ادا کړي. (اَلْبَحْرُالرَّائِق ج1 ص374373)

﴿۲﴾ د **فرض** لـمونځ د وخت په تيريدو د مَعذور اَودَس ماتيږي لکه څنګه چې چا د مازديګر په وخت کښې اَودَس کړے وو نو د لـمر د پريوتو سره د هغه اَودَس مات شو او که چا د لـمر د راختلو نه وروستو اَودَس اوکړو نو چې د څو پورې د ماسپښين وخت ختم نه وي اَودَس به ئې نه وي مات، ځکه چې تر اوسه پورې د يو فرض لـمونځ وخت نه دے تير شوے. د فرض لـمونځ وخت چې څنګه تير شي نو د معذور اَودَس مات شي او دا حکم به په دې صورت کښې وي چې د مَعذور عُذر د اَودَس کولو په دوران کښې يا د اَودَس نه وروستو ظاهر شي که داسې نه وي او بل څه حدث (يعني د بے

اَودَسئ څه بل سبب) هم نه وي پيښ شوے نو د فرض لـمونځ د وخت په تيريدو به اَودَس نه ماتيږي. (بهارشريعت ج1 ص386، درمختار، رَدُّالْمُحتار ج1 ص555)

﴿٣﴾ چې عُذر ثابِت شو نو د څو پورې چې د لـمانځه په يو پوره وخت کښې يو پيره هم هغه عُذر پيښ شي نو معذور به ګڼرلے شي. مثلاً د چا چې په پوره وخت کښې خاڅکے راتلو او هغه ته دومره موقع هم نه وه چې هغه اَودَس اوکړي او فرض ادا کړي نو مَعذور شو. بيا په نورو وختونو کښې ورته دومره موقع وي چې اَودَس اوکړي او لـمونځ اوکړي خو يو ځل نيم ئې خاڅکے راځي نو اوس هم مَعذور دے. خو که پوره يو وخت داسې تير شو چې يو ځل هم خاڅکے رانغلو نو مَعذور پاتې نه شو بيا چې کله هغه مخکښنے حالت راغلو (يعني پوره وخت مسلسل مرض شو) نو بيا معذور شو. (بهارشريعت ج1 ص385)

﴿٤﴾ د مَعذوره اَودَس په هغه شي نه ماتيږي د څه په وجه چې هغه مَعذور دے خو که بل څه اَودَس ماتوونکے څيز پيښ شي نو اَودَس ئې مات شو. مثلاً د چا چې د هوا خارج کيدو مرض وي نو د خاڅکي وَتلو سره به ئې اَودَس مات شي او د چا چې د خاڅکي مرض دے د هغه به هوا خارج کيدو سره اَودَس مات شي. (بهارشريعت ج1 ص386)

﴿٥﴾ مَعذور د څه حدث (يعني د اَودَس ماتوونکي څه عمل) نه پس اَودَس اوکړو او د اَودَس کولو په وخت کښې هغه څيز نشته د څه په وجه چې

معذور دے بيا د اَودَس نه پس هغه د عُذر والا څيز پيښ شو نو اَودَس مات شو (دا حڪم به په هغه صورت ڪښې وي چې کله معذوره د خپل عذر نه سِوا څه په بله وجه اَودَس ڪړے وي او که د خپل عذر په وجه ئې اَودَس ڪړے وي نو د اَودَس نه پس د عذر پيښيدو په صورت ڪښې به ئې اَودَس نه ماتيږي) مثلاً چې د چا څاڅکے راتلو او د هغه هوا خارج شوه او هغه اَودَس اوکړو او د اَودَس کولو په وخت ڪښې ئې څاڅکے بند وو او د اَودَس کولو نه پس ئې څاڅکے راغے نو اَودَس ئې مات شو. خو که د اَودَس په مينځ ڪښې ئې څاڅکے جاري وو نو اَودَس مات نه شو. (بهارِشريعت ج1 ص387، درمختار، رَدُّالْمُحتار ج1 ص557)

﴿٦﴾ که معذور ته داسې عذر وي چې د هغې په وجه جامے [يعني ڪپړے] ناپاکه کيږي نو که د يو دِرهم نه زياتې ناپاکه شوې او پوهيږي چې دومره وخت شته دے چې دا وينځلے شم او په پاکو جامو ڪښې لمونځ کولے شم نو فرض دي چې دا اووينځي او لمونځ پکښې اوکړي او که پوهيږي چې په لمونځ کولو ڪښې به بيا هم هغه همره ناپاکه شي نو بيا وينځل ضروري نه دي. هم په دغه [جامو] ڪښې دې ئې اوکړي اګر که مُصلّٰي هم ګنده شي بيا به هم د هغه لمونځ اوشي. (بهارِشريعت ج1 ص387)

(د معذور د اَودَس تفصيلي مسائِل فَتاوٰی رَضَوِيّه جلد4 صفحه 367 تا 375، بهارِشريعت جلد 1 صفحه 385 تا 387 ڪښې اوګورئ)

## وړه مُتفَرِّقات

﴿١﴾ واړه بَول، غټ بَول، وَدي، مَذي، مَني، چينجے يا شګه دَ نارينه يا دَ زنانه

د مخکښې يا د شا د مقام نه اوځي نو اَودَس به مات شي. (فتاوٰيِ عالمګيري ج1ص9)

﴿۲﴾ د نارينه يا زنانه د شا د مقام نه معمولي شان هوا هم خارجه شوه اَودَس مات شو. د نارينه يا زنانه د مخکښې مقام نه هوا خارجه شوه نو اَودَس ورسره نه ماتيږي. (ايضاً، بهارِ شريعت ج1 ص304) ﴿۳﴾ د بيهوشه کيدو سره اَودَس ماتيږي. (فتاوٰيِ عالمګيري ج1ص12) ﴿٤﴾ بعضې خلق وائي چې د خِنزير د نوم اغستو سره اَودَس ماتيږي دا غلطه ده. ﴿٥﴾ د اَودَس کولو په دوران کښې که هوا خارجه شي يا په بله څه وجه اَودَس مات شي نو دَ نوي سر نه اَودَس اوکړئ مخکښې وِينځلي شوي اندامونه ناوينځلي شو. (فَتاوٰيِ رَضَوِيّه مُخرَّجه ج1ص255) ﴿٦﴾ قُرآنِ پاک يا د دې يو آيت يا که په هره ژبه کښې د قُرآنِ پاک ترجَمه وي هغې ته بے اَودَسه لاس لګول حرام دي. (بهارِ شريعت ج1ص326، 327 وغيره) ﴿۷﴾ آيت ته د لاس لګولو نه بغير په کتلو يا په يادو بے اَودَسه لوستلو کښې باک نشته.

## دَ آيت ليکلي شوي کاغذ شا ته د لاس لګولو مسئله

په کتاب يا اخبار [وغيره] کښې چې کوم ځائے آيت ليکلے شوے وي، خاص هغه ځائے ته بے اَودَسه لاس لګول جائِز نه دي. که هم هغه طرف ته چا لاس اولګوو په کوم طرف چې آيت ليکلے شوے دے يا د هغې شا ته (يعني د ليکلے شوي آيت رسا شا ته) دواړه ناجائِزه دي. (آيت يا د هغې رسا شا ته حصّے نه علاوه)، باقي پاڼړې ته په لاس لګولو کښې باک نشته، لوستل بے اَودَسه هم جائِز دي. که د لامبلو حاجت [يعني غسل کول فرض] وي نو (لوستل) هم حرام دي. وَاللهُ تَعَالٰی اَعلَم. (فَتاوٰيِ رَضَوِيّه مُخرَّجه ج4 ص366)

## بے اَودَسه د قرآن مجيد يو ځائے ته هم لاس نه شي لګولے

**بے اَودَسه** آيت ته لاس لګول خو حرام دي اګر که آيت په بل کوم يو کتاب کښې ليکلے شوے وي خو د قرآنِ مجيد ساده حاشيه بلکه [د هغې کټے]، بلکه کومه کپړه يا خرمن چې په کټه پورې نخښتي يا ګنډلي شوي وي هغې ته لاس لګول هم حرام دي، خو که په "کخوړه" کښې وي نو کخوړې ته لاس لګولے شي. بے اَودَسه خپلې سينے ته هم قرآن شريف نه شي لګولے. که د بے اَودَسه په څټ [يا اُوګه وغيره] باندې د اُوګړد څادر يو ګوټ پروت وي او د هغې بل ګوټ په لاس کيږدي او قرآن شريف ته لاس لګول غواړي، که څادر دومره اُوګړد وي چې د دې کس د کښيناستو پاخيدو سره د هغې بل ګوټ ته حرکت نه رسي [يعني نه خوزيږي] نو جائِز دي، ګني نه [يعني که داسې نه وي نو ناجائِزه دي].

(فتَاوٰي رَضَوِيّه مُخرّجه ج4 ص724،725)

## په اَودَس کښې د اوبو اِسراف

نن صبا اکثر خلق په اَودَس کولو کښې تيز نل چالو کړي او ډيرې زياتې اوبه تويوي. تر دې چې بعضې خلق چې ځنګه اَودَس خانے ته را اورسي نو مخکښې نل چالو کړي او بيا لِستونړې په بره کوي د دومره وخته پورې مَعَاذَالله اوبه ضائِع کيږي، هم دغسې د مَسْحُ کولو په دوران کښې اکثر خلق نل چالو پريږدي! مونږ ټولو لره د الله تعالٰی د ويرې په وجه د اِسراف نه بچ کيدل پکار دي، د قيامت په ورځ به د ذرّے ذرّے او د

خاخکي خاخکي حساب کيږي. د اِسراف د مُذَمَّت په باره کښې خلور احاديثِ مباركه اولولئ او د **اللّٰه** تعالیٰ د ويرې نه اولړزيږئ.

## (1) په جاري نهر باندې هم اِسراف

دَ **اللّٰه** تعالیٰ خوږ رسول، رسولِ مَقبول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت سعد رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ په خوا تيريدلو هغوئي اَودَس کولو. اِرشاد ئې ورته اوفرمائيلو: دا اِسراف څنګه؟ عرض ئې اوکړو، آيا په اَودَس کښې هم اِسراف شته؟ اوئې فرمائيل:" آو اګر که ته په جاري نهر ئې. (ابنِ ماجه، ج1 ص254، حديث425)

## د اعلیٰ حضرت فَتوٰى

**اعلیٰ حضرت**، اِمامِ اَهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديث لاندې فرمائي: حديث په جاري نهر کښې هم اِسراف ثابِت کړو او اِسراف په شَرع کښې د شروع نه مذموم راغلے دے، آية کريمه:

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ (پ8 الاِنعام 141)

(مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه هغه بے ځايه خرچ کوونکي نه خوښوي)

مُطلَق دے نو دا اِسراف به هم ضرور مَذموم او منع وي **بلکه بخپله اِسراف فِي الوضو کښې صِيغهٔ نهي وارِد او نَهي حَقِيقَةً مُفيدِ تَحرِيم.** (يعني په اَودَس کښې د اِسراف د منع حکم راغلے دے او په حقيقت کښې د منع کولو حکم حرام کيدل ثابِت کوي). (فَتاوٰى رَضَويه ج1 ص731)

## د مُفتي احمد يار خان تفسير

مشهور **مُفَسِّر حَكيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فَتوىٰ كښې د ذكر كړے شوي سُورةُالاَنعام د 141 نمبر آيت لاندې د بے ځايه خرچ (يعني اِسراف) په باره كښې ليكي: "په ناجائِزه ځائے كښې خرچ كول هم بے ځايه خرچ دے او د ټول مال په خرچ كولو خپل بال بچي فقيران جوړول هم بے ځايه خرچ دے، د ضرورت نه زيات خرچ كول هم بے ځايه خرچ دے ځكه د اَودَس اندامونه (د شريعت د اِجازت نه بغير) څلور ځله وينځل اِسراف منلے شوے دے". (نورالعرفان ص232)

## (2) اِسراف مه كوه

**حضرت** سَيِّدُنا عَبدُ الله بِن عُمر رَضِىَ اللهُ عَنهُمَا فرمائي: د الله تعالىٰ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو كس په اَودَس كولو اوليدو اوئې فرمائيل: " اِسراف مه كوه اِسراف مه كوه." (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج1 ص254 حديث424)

## (3) اِسراف شيطاني كار دے

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنهُ نه رِوايت دے، په اَودَس كښې ډير شے اوبو اړولو كښې هيڅ خير نشته او دغه كار د شيطان له طرفه دے.

(كَنزُالعُمَّال ج9 ص144 حديث26255)

## (4) دَ جَنَّت سپين محل غوښتل څنګه دي؟

حضرت سَيِّدُنا عَبدُ الله اِبنِ مُغَفَّل رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خپل ځوئ نه داسې دُعا واوريده چې يا اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ! زه ستا نه د جنّت د ښي طرف والا سپين محل غواړم. نو ورته ئې اوفرمائيل: اے زما ځويه! د الله تعالیٰ نه جنّت غواړه او د دوزخ نه د هغه پناه غواړه. ما دَ رَسُولُ‌الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې په دې اُمَّت کښې به هغه قوم وي چې په اَودَس او دُعا کښې به د حد نه تجاوز کوي [يعني د حد نه به اوړي]. (سنن ابو داؤد ج 1 ص 68 حديث 96)

**مشهور مُفَسِّر حَکيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: "په دُعا کښې د حد نه اوړيدل خو دا دي چې د داسې خبرې تَعَيُّن اوکړے شي چې د هغې ضرورت نه وي څنګه چې د هغوئي صاحبزاده [يعني ځوئ] اوکړو. فِردوس (کوم چې د ټولو نه اعلیٰ جنّت دے د هغې) غوښتل ډير غوره دي ځکه چې په هغې کښې شخصي تعيُّن (يعني د خپل طرف نه مقرر کول) نشته، نوعي تَقَرُّر دے (يعني قِسم مقرر کول دي) او د دې حکم ورکړے شوے دے. (مِرآة المناجيح ج 1 ص 293)

## بد ئې اوکړل او ظُلم ئې اوکړو

يو اَعرابي د حضور سَيِّدِ عالَم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ اقدس کښې حاضر شو او د اَودَس په باره کښې ئې تپوس اوکړو، حُضورِ اَقدس صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي په مخکښې اَودَس اوکړو چې په هغې کښې ئې يو يو اندام

درېٖ درېٖ ځله اووينځلو بيا ئې وفرمائيل: اَودَس داسې دے، نو چې څوک د دې نه زيات اوکړي يا کم اوکړي هغه بد اوکړل او ظُلم ئې اوکړو. (سُنَن نَسائي ص 31 حديث 140)

## اِسراف صرف په دوو صورتونو کښې ګناه ده

اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکي: دا وَعِيد په دې صورت کښې دے چې کله په دې عقيده زياتے اوکړي چې زياتے کول سُنَّت دي. خو که تَثلِيث (يعني درېٖ ځله وينځل) سُنَّت مني او په اَودَس د پاسه د اَودَس کولو په اراده يا د شک په وخت کښې د زړه دَ تسلئ د پاره يا تَبرِيد (تَب.رِيد يعني د اندامونو د يخولو د پاره) يا تَنظِيف (يعني د صفائي) د پاره ئې زيات اوکړل يا ئې د څه حاجت په وجه کمې اوکړو نو هيڅ باک نشته. **صرف په دوو صورتونو کښې اِسراف** [يعني زيات خرچ کول] **ناجائِزه او ګناه ده يو دا چې د کومې ګناه په کار کښې ئې خرچ او استعمال کړي، بل دا چې صرف بيکاره خپل مال ضائع کړي.** په اَودَس او غُسل کښې د درېٖ ځلو نه زيات اوبه اړول هله چې د صحيح غرض (يعني جائِز مقصد) د پاره وي هيڅ کله اِسراف نه دے ځکه چې د جائِز غرض د پاره خرچ کول نه پخپله ګناه ده نه بيکاره ضائع کول دي. (فَتاوٰی رَضَوِيه ج 1 جزب ص 940 تا 942)

## عملي طور اَودَس زده کړئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې د ښودنې د پاره پخپله عملي طور د بل په مخکښې اَودَس کول د سُنَّت نه ثابِت

دي. مُبَلِّغينو ته پکار دي چې په دې باندې عمل اوکړي او بغير د اِسراف نه صِرف د ضرورت مطابق په اوبو بهيولو او درې درې ځله اندامونو وِينځلو سره د ښودنې د پاره د اسلامي ورونړو په مخکښې اَودَس اوکړي. بالکل د شريعت د اِجازت نه بغير چې يو اندام هم څلور ځله اونه وِينځلے شي د دې خيال ساتل پکار دي، بيا که څوک په خپله طَبعه خپله اِصلاح کول غواړي هغه دِ هُم د مُبَلِّغ په مخکښې اَودَس اوکړي او د مُبَلِّغ په ذريعه دِ خپلې غلطيانې لرې کړي. د دعوتِ اسلامي د **سُنَّتونو د تربيّت** په مدني قافِلو کښې د **عاشِقانِ رسول** په صُحبَت کښې دا مَدَني کار په ډيره ښه طريقه سره کيدے شي. صحيح اَودَس کول ضرور ضرور زده کړئ. ډيره مشکله ده چې صرف يو دوه ځله د اَودَس طريقه لوستلو سره صحيح مَعنو کښې اَودَس کول زده شي. بيا بيا مَشق کول پکار دي. د اَودَس زده کولو د پاره د دعوتِ اسلامي اِشاعتي اِدارے **مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه** نه جاري شوې V.C.D "وضو کا طريقه" کتل ډير زيات فائده مند دي.

## د جُمات او مدرَسے د اوبو اِسراف

د جُمات او مدرسے د اَودَس خانو اوبه د "وقف" په حکم کښې دي. د دې او د خپل کور د اوبو په احکامو کښې فرق دے. کوم خلق چې د جُمات په اَودَس خانو کښې په بے دردئ سره اوبه اړوي بلکه په اَودَس کښې بے ضرورته صرف د غفلت يا د جَهالت په وجه د درې نه زيات ځله اندامونه وِينځي هغه دِ په دې مُبارَکه فَتوىٰ غور اوکړي، د **اللّٰه** تعالیٰ د ويرې نه دِ ورلزيږي او توبه دِ اوکړي. چنانچه اعلٰي حضرت **اعلٰی حضرت،**

امامِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ عَلّامه مولانا اَلشَّاه اِمام اَحمَد رَضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”كه د وقف په اوبو ئې اَودَس اوكړو نو زيات خرچ كول بِالاِتِّفاق حرام دي ځكه چې په دې كښې د زيات خرچ كولو اِجازت نه دے وركړے شوے او د مَدرسو اوبه هم د دې قِسمه دي چې هغه د هغه خلقو د پاره وقف وي څوک چې شَرعي اَودَس كوي.“ (فَتاوىٰ رَضَوِيّه ج1 ص658)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! څوک چې ځان د اِسراف نه بچ كوي هغه له پكار دي چې مـملوكه (يعني د خپل مِلكيت) مثلاً د خپل كور په اوبو اَودَس كوي. مَعَاذَالله د دې دا مطلب نه دے چې د ذاتي اوبو د اِسراف اِجازت دے بلكه په كور كښې دِ ښه مَشق اوكړي چې شَرعي اَودَس كول زده كړي چې بيا د جُمات د اوبو د اسراف كولو د حرام مُرتَكب نه شي.

## د ”احمد رضا“ د ۷ حروفو په نِسبت د اعلىٰ حضرت له طرفه د اِسراف نه د بچ كيدو ۷ طريقے

﴿۱﴾ **بعضي** خلق په چونګ كښې اوبه داسې تيزې اچوي چې د ډكيدو سره ترينه اخوا ديخوا واوړي حالانكه كومې چې واوښتي هغه بيكاره لاړې د دې احتياط پكار دے.

﴿۲﴾ هر چونګ ډک ضروري نه دے بلكه چې د كوم كار د پاره ئې اخلئ د هغې اندازه كوئ مثلاً په پوزه كښې د نرم هډوكي پورې د اوبو

خيژولو د پاره د پوره چونګ څه ضرورت دے، نيم هم کافي دے بلکه ډک چونګ خو د خُلې د وِينځلو د پاره هم نه دے پکار.

﴿۳﴾ د **لوټے** ټوټئ درميانه پکار ده، نه دومره تنګه چې اوبه په ډير وخت کښې راپريږدي او نه دومره فراخه چې د حاجت نه ډيرې اوبه اړوي، د دې فرق داسې معلوميدے شي چې په کټوري [يعني د غټې خُلې په لوښي] کښې اوبه واخلې او اَودَس پرې اوکړې نو ډيرې اوبه خرچ کيږي هم دغسې د فراخه ټوټئ نه بهيول د زيات خرچ باعث دي.که لوټه داسې (يعني فراخه ټوټئ والا) وي نو احتياط دِ کوي، پوره داره دِ ترينه نه اړوي بلکه نرئ [داره دِ استعمالوي] (په نل چالو کولو کښې هم د دې خبرو خيال ساتئ)

﴿٤﴾ د **اندامونو** د وِينځلو په وخت کښې دِ په هغې [يعني اندامونو] باندې لوند لاس راښکاږي بيا پرې اوبه ښے بهيرې او لږې (اوبه) د ډيرو (اوبو) کار ورکړي خصوصاً د يخنئ په موسم (يعني په جمې) کښې د دې زيات حاجت دے ځکه چې په اندامونو کښې خُشکي وي او بهيدونکي داره په مينځ کښې خالي ځائے پريږدي څنګه چې مُشاهِده (يعني ليدلې کتلې خبره) ده.

﴿۵﴾ که په **مړوندونو** هم ويښته وي نو اوئې تراشئ [يعني مشين ئې کړئ] ځکه چې دا وي نو اوبه زياتې غواړي او د خرَئِيلو سره سختيږي او تراشل

ئي په مشين غوره دي ځکه چې ښه صفائي کوي او د ټولو نه اَحسَن او اَفضَل نُوره (يو قِسم بال صفا پوډر) دي ځکه چې په دې اندامونو کښې هم دا د سُنَّت نه ثابت دي. چنانچه اُمُّ الْمُؤمِنِين سيِّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې كله د نُوره استعمال فرمائيلو نو په سَتْرِ مُقَدَّس به ئې پخپلو لاسو مُبارکو لګولو او په باقي بدنِ مُنَوَّر باندې به ورته ازواجِ مُطَهَّرات رَضِيَ اللهُ عَنْهُنَّ لګولو. (ابنِ ماجه ج٤ ص٢٢٦ حديث٣٧٥١) او که داسې اونکړېږئ نو د وِينځلو نه مخکښې ئې په اوبو ښه لامده کړئ چې ټول وېښته خواره شي، ګنې که د وېښتو په جرړو اوبه تيرې شوې او په څوکو ئې اونه بهيدلې نو اَودَس اونشو.

﴿٦﴾ په لاسونو او ښپو چې د لوټې د ټوټئ نه اوبه اچوئ نو د نوکانو نه د ختنکلې پورې يا [د ښپو د نوکانو نه] د ګِيټو [پړکو] پورې ئې عَلَي الْاِتِّصَال (يعني مسلسل) کوزوئ چې په هرځائ باندې يو پيره اوبه تيرې شي. چې کله اوبه توئيږي او لاس په خوزيدو کښې ډير وخت اخلې نو په يو ځائے به مُکرّر (يعني بيا بيا) تويږي (او دغسې به د اِسراف صورت پيدا کيږي).

﴿٧﴾ بعضې خلق داسې کوي چې د [لوټې ټوټئ د لاس د] نوکانو نه د ختنکلې پورې يا (د ښپو) د ګيټو [پړکو] پورې په بهيولو راولې بيا د دويم يا دريم ځل د پاره ئې چې بيرته د نوکانو طرف ته بوځي نو لاس نه اُودروي او په بهيدلې داره [ټوټئ د نوکانو طرف ته] بوځي، داسې مه کوئ ځکه چې د دري په ځائے به پينځه ځله شي بلکه هره پيره ختنکل يا د ښپې ګيټئ

[پړکي] ته چې را اورسي نو بهيول بند کړئ او بنده ته‌وتېږ د نوکانو پورې يوسئ او د هغه ځائے نه [بيا اوبه بهيول] شروع کړئ چې سُنَّت هم دا دي چې د [لاسونو د] نوکانو نه د څنګلو او [د پښو د نوکانو نه] ګيټو [پړکو] طرف ته اوبهيرې، نه چې د دې مخالِف. (يعني د څنګل يا د ګيټو [پړکو] نه نوکانو طرف ته اوبه په بهيولو سره وړل سُنَّت نه دي)

**قولِ جامِع** دا دے چې د سليقے [يعني د مناسب طريقے] نه کار اخلئ. اِمامِ شافِعي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه څه ښه فرمائيلي دي: "که په سليقه سره ئې راواخلئ نو لږ هم کافي دي او که په غلطه طريقه وي نو ډير هم کفايت نه کوي." [2]

## د اِسراف نه د بچ کيدو 14 مدني ګلونه

﴿۱﴾ د نن پورې چې مو څومره ناجائِزه اِسراف کړے دے، د هغي نه توبه اوکړئ او آئِنده د بچ کيدو پوره کوشش شروع کړئ.

﴿۲﴾ **سوچ او فکر** اوکړئ چې داسې صورت مُتَعَيَّن شي چې اَودَس او غُسل هم د سُنَّت مُطابِق اوشي او اوبه هم کم نه کم خرچ شي، خپل ځان ويَروئ چې د قيامت په ورځ به د يوے يوے ذرّے او د څاڅکي څاڅکي حساب کيږي. **الله** تَبَارَکَ وَتَعَالٰی په سيپاره 30 سُوۡرَۃُالزِّلۡزَال آيت نمبر 7 او 8 کښې ارشاد فرمائي:

---

[2] از افادات فتاوي رضويه ج1 ص765 تا 770

فَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرًا يَّرَهٗ ۝٧ وَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝٨

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: څوک چې د يو ذرّے همره نيکي اوکړي هغه به ويني او څوک چې د يو ذرّے همره بدي اوکړي هغه به ويني.

﴿۳﴾ د اَودَس په وخت کښې نَل په احتياط سره چالو کوئ، که کيدے شي نو د اَودَس په وخت کښې يو لاس د نل د پاسه ساتئ او د ضرورت په پوره کيدو زر زر نل بندوئ.

﴿٤﴾ د نل په مُقابَله کښې په لوټه اَودَس کولو کښې اوبه کمې خرچ کيږي. که د چا نه کيدے شي نو هغه دِ په لوټه اَودَس کوي، که د نل نه بغير ګزاره نه شي کيدے نو دا هم کيدے شي چې د کومو اندامونو په وِينځلو کښې آساني وي هغه په لوټه اُووِينځئ. په نل اَودَس کول جائِز دي، بس په څه شان د اسراف نه د بچ کيدو طريقے اختيارول پکار دي.

﴿٥﴾ د **مسواک** کولو، د خُلې وِينځلو، د غرغرې کولو، د پوزې پاکولو، د ګِيرې او د ګوتو د خِلال او د مسح کولو په وخت کښې يو څاڅکے هم نه څڅيږي، داسې د نل صحيح بندولو عادت جوړ کړئ.

﴿٦﴾ خاص طور په جمې کښې د اَودَس يا د غسل کولو او د لوښو يا جامو وِينځلو د پاره د ګرمو اوبو حاصلولو د پاره په پائِپ کښې جمع شوي يخې اوبه هسې د بهيولو په ځائے مخکښې په څه لوښي کښې د ويستلو ترکيب جوړوئ.

﴿۷﴾ **لاس** يا مخ وينځلو د پاره د صابون زګ جوړولو كښې هم اوبه په احتياط سره خرچ كوئ. مثلاً د لاس وِينځلو د پاره په لاس كښې د اوبو يو څو ځاځكي اچولو سره د صابون زګ جوړيدے شي او كه د **مخ**كښې نه هم صابون په لاس كښې وي او اوبه پرې را واچوئ نو اوبه زياتې خرچ كيدے شي.

﴿۸﴾ د **استعمال** نه پس په داسې صابون دانئ كښې صابون كيږدئ چې په هغې كښې اوبه بالكل نه وي، قصداً په اوبو كښې صابون ايښودلو باندې به صابن وِيلې شي او ضائِع به شي. د لاسونو وينځلو د بيسن په غاړه هم صابن ايښودل نه دي پكار، ځكه چې د اوبو په وجه هغه زر وِيلې كيږي.

﴿۹﴾ د ځنبلو نه پس په ګلاس كښې پاتې شوي اوبه د اړولو په ځائے بل چا ته ځنبلو د پاره وركړئ يا ئې په بل څه [كار] كښې استعمال كړئ.

﴿۱۰﴾ نن صبا په ميوه، كپړو، لوښو، فرش، بلكه د چائے پيالئ يا يوه قاشوغه وِينځلو كښې د غيرضروري اوبو اړولو دومره زيات رواج دے چې حَسَّاس او زړه سواندې كس ورته كتلے نه شي!!! اے كا ش!

شايد كه اُتر جائے ترے دل ميں ميري بات

مفهوم: كيدے شي چې زما خبره ستا زړه ته كوزه شي

﴿۱۱﴾ په **اكثرو** جماتونو،كورونو، دفترونو، دُكانونو وغيره كښې بے فائِدے شپه او ورځ بلبونه بَل، A.C او پكے چليږي، د ضرورت پوره كيدو نه

پس بلبونه، او پکي او A.C او کمپيوټر وغيره د بندولو عادت جوړ کړئ، مونږ ټولو ته د آخِرت د حِساب نه ويريدل او په هره معامله کښې د اِسراف نه هميشه بچ کيدل پکاردي.

﴿۱۲﴾ په **استِنجاخانه** کښې لَوټه استِعمالوئ ځکه چې په فُواره باندې په طهارت [يعني استنجا] کولو کښې اوبه هم زياتې خرچ کيږي او ښپو ته هم اکثر دارې کيږي. هر يو لره پکار دي چې هره پيره د بَولو نه د فارغ کيدو نه پس يوه لوټه اوبه لرې د W.C په غاړو باندې اړوي او بيا لږ د بَره نه (خود ځاځکو نه د بچ کيدو د احتياط سره) په غټ سُوري کښې وَر واړوي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په بدبوئ او د جراثيمو په پيدا کيدو کښې به کمے کيږي. د "فلش ټينک" په ذريعه صفائي کولو سره اوبه ډيرې زياتې خرچ کيږي.

﴿۱۳﴾ که د **نَل** نه اوبه څڅيږي نو د دې فوراً څه حَل اوباسئ که نه وي نو اوبه به مسلسل ضائع کيږي، اکثر د جماتونو او د مدرسو نلونه ځاځي او د دې څوک تپوس کوونکے نه وي، انتِظاميه ته پکار دي چې د خپلې ذمه دارئ احساس کوي او د خپل آخِرت د بهترئ د پاره فوراً څه ترکيب جوړوي.

﴿۱۴﴾ ډوډئ خوړلو. چائے يا نور څه څښلو، ميوه پريک کولو وغيره کارونو کښې ښه احتياط کوئ چې هره دانه، هره ذرّه او هر يو ځاځکے استعمال شي.

# د 40 مدني ګلونو رَضَوِي ګلدسته

(ټول مدني ګلونه د فتاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه د جِلد 4 په آخره کښې ورکړے شوي "فوائد جليله" صفحه 613 تا 746 نه اخستے شوي دي)

❖ په **اوداسه** کښې دِ سترګې کلکې نه بندوي خو [که بندې ئې کړې نو] اَودَس به اوشي ❖ که شونډې ئې ښے کلکې بندې کړې او **اَودَس** ئې اوکړو او خُله ئې اونه وينځله نو اَودَس به نه کيږي. ❖ د اوداسه اوبه به د قيامت په ورځ د نيکو په **تَلَه** کښې ايښودلے شي. (خو ياد ساتئ د ضرورت نه زياتې اوبه تويۍ کول اسراف دے) ❖ که مسواک موجود وي نو په ګوته باندې غاښونه مږل د **سُنَّت** ادا کولو او د ثواب ګټلو د پاره کافي نه دي، خو که مسواک نه وي نو ګوته يا زګه کپړه باندې به **سُنَّت** ادا شي او د ښځو د پاره که مسواک موجود وي نو بيا هم په [ګوته يا دنداسه وغيره] **مږل** کافي دي ❖ که ګوتۍ سَسته وي نو په **اوداسه** کښې په تاوهلو تاوهلو په هغې اوبه بهيول **سُنَّت** دي او که تنګه وي او د خوزولو نه بغير اوبه نه شي رسيدلے نو [د خپل ځائے نه خوزول او په هغه ځائے اوبه بهيول] **فرض** دي، هم دا حکم د والۍ (د غوږ د کالي) وغيره دے ❖ اندامونه په مږلو مږلو وِينځل په **اَودَس** او **غسل** دواړو کښې **سُنَّت** دي ❖ د اَودَس د اندامونو په وينځلو کښې د شرعي حد نه دومره معمولي شان لِيکه (يعني د هر طرف نه معمولي شان) زياتول چې په هغې شرعي حد پوره کيدو کښې شک پاتې نه شي، **واجب** دي. ❖ په اَودَس کښې په خُله يا پوزه کښې اوبه نه

اچول مکروه دي او که دا عادت جوړ کړي نو ګنهګار به وي. دا مسئَله دِ هغه خلق ښه ياده لري څوک چې خُله داسې نه وينځي چې د حلقه پورې هر ځائے اووينځلے شي او هغه خلق چې اوبه صرف پوزې ته لګوي او پورته خيژولو د پاره ئې نه راښکاږي دا خلق ټول **ګنهګار** دي، او که په غسل کښې داسې اونکړي نو د سَرَه به نه **غُسل** کيږي او نه لـمونځ ❖ په اَودَس کښې د هر يو اندام پوره درې ځله وينځل **سُنَّت مُؤَکده** دي، د پريښودلو په عادت به ګنهګار وي ❖ په اودس کښې تادي نه ده پکار بلکه په اِطمِينان او احتياط سره دِ ئې کوي. په عوامو کښې چې دا مشهوره ده چې "اَودَس د ځوانانو په شان، او لـمونځ د بوډاګانو په شان" دا دَ اَوداسه په باره کښې غلطه ده ❖ په مخ وينځلو کښې دِ اوبه نه په اننګو باندې اچوي نه په پوزه نه په زوره په تندي باندې، دا ټول کارونه د جُهّال (يعني د جاهلانو) دي بلکه په قلاره دِ ئې د **تندي** د بره نه اچوي چې د **زني** پورې ښکته رابهيږي ❖ که چا په اَودَس کښې د مخ نه راتوئيدو والا اوبه [په بل اندام] مثلاً په مړوند اوبهيولې نو په دې اَودَس نه کيږي (يعني په مخ وينځلو کښې د مخ نه را بهيدو والا اوبو باندې د لاس مړوند وغيره نه شي وينځلے) او په غسل کښې (معامله جُدا ده) مثلاً د سر اوبه چې د ښپو پورې د کوم کوم ځائے پورې بهيږي هغه ځائے به پاکوي هلته د نوو اوبو حاجت نشته ❖ که څوک اَودَس ته کښيناستو او بيا ئې د څه رُکاوټ په وجه مکمل نه کړے شو نو چې څومره افعال ئې

کړي وو [یعني خومره اَودَس ئې چې کړے وو] د هغې به ثواب مومي اګر چې اَودَس ئې اونه شو ❖ چا چې پخپله اراده اوکړه چې نیم اَودَس به کوي نو هغه به په دې افعالو ثواب نه مومي، هم دغسې چې څوک اَودَس ته کښیناستو او بے عُذره ئې نیمګړے پریښودو نو هغه هم چې څومره افعال [یعني د کوم حده پورې اَودَس] کړے وو په هغې باندې د ثواب حقدار جوړیدل نه دي پکار. ❖ که په سر باندې د باران دومره څاڅکي اوشو چې څلورمه حصّه سر لوند شو نو مسح اوشوه، اګر چې هغه کس ورته نه لاس لګولے دے او نه ئې قصد (یعني نیّت او اراده) کړې وه. ❖ په پرخه [چنئ] کښې سرتور سر کښیناستو او په هغې ئې څلورمه حصّه سر لوند شو، مسح اوشوه ❖ په دومره تودو او دومره یخو اوبو اَودَس کول مکروه دي چې هغه په بدن باندې په صحیح طریقه نه شي اچولے کیدے یعني سُنَّت پرې نه شي پوره کیدے، او که په کوم یو فرض پوره کولو کښې رُکاوټ جوړ شو نو د سره به اَودَس نه کیږي. ❖ اوبه بیکاره خرچ کول یا توئ کول حرام دي. (پخپله یا د بل د څښلو نه پس د ګلاس یا د جګ اوبه هسې توئ کوونکي دِ توبه اوکړي او د بیا د پاره دِ د دې نه ځان ساتي) ❖ که د نوم نه زیرې اوبه په بهیدلو اوځي نو اَودَس ماتیږي ❖ که وِینه یا نَو په سترګه کښې دننه اُوبهیدو خو د سترګې نه بهر اونه وَتو نو اَودَس به نه ماتیږي، هغه که په ټُوکي [یعني کپړه] باندې وچ کړے شي او [هغه ټُوکے] په اوبو کښې واچولے شي نو (اوبه) به نه ناپاکه کیږي. ❖

په زخم پټۍ تړلے شوي ده په هغې وِينه وغيره اولګيدله که دومره وه چې که مخه ورته بنده نه وے نو بهيدلې به وے نو اَودَس مات شو ګنې نه، او نه پټۍ ناپاکه شوه ❖ [د تشو بولو په ځائے کښې دننه] څاڅکے راروان شو يا وِينه وغيره په ذکر کښې دننه اوبهيدله چې تر څو پورې د هغې د سُورې نه بهر نه وي راوَتلې، اَودَس به نه ماتيږي. او واړه بول صرف د سُورې په خُله کښې ځليدل (د اَودَس ماتولو د پاره) کافي دي. ❖ د نابالغه اَودَس کله هم نه ماتيږي او نه پرې غسل اوړي. دوئې (يعني نابالغو) ته د اَودَس او غُسل حکم د عادت جوړولو د پاره او د ادب زده کولو د پاره دے، ګنې په هيڅ قِسمه حَدَث [يعني اَودَس ماتوونکي کار] د دوئې اَودَس نه ماتيږي او نه د جِماع سره په دوئې غُسل فرض کيږي ❖ اَودَس لرونکي د مور او پلار جامے [يعني کپړے اووينځلې] يا ئې د هغوئې د خوړلو د پاره ميوه [اووينځله] يا ئې د جُمات فرش د ثواب د پاره وِينځو، اوبه به نه مُستَعمَله کيږي اګرچه دا کارونه د قُربت (يعني د الله د رضا) دي. ❖ د نابالغه پاک لاس يا د بدن کومه حصه اګرچه د هغه اَودَس نه وي په اوبو کښې د وهلو سره به اوبه د اَودَس قابِلې وي. ❖ بدن پاک ساتل، خِيرے لرې کول د شَرع تقاضه ده ځکه چې د اسلام بُنياد په پاکئ دے. په دې نِيَّت که اَودَس لرونکي [خپل] بدن اووينځو نو بيشکه قُربت (يعني د ثواب کار) دے خو اوبه مُستعمَل نه شوې. ❖ مُستَعمَلې اوبه پاکې دي په دې باندې کپړے وينځلے شئ خو په دې اَودَس نه کيږي او د دې څښل او

په دي وره اښکل [يعني اَغزَل] مکروهِ (تنزيهي) دي. ❖ پردئ اوبه ئې بې اِجازته يوړلے اګر چې په زور يا په غَلا، په هغې به اَودَس اوشي خو [داسې کول] حرام دي، البته که د چا مملوک (يعني د هغه د ذاتي) کوهي نه بل چا د هغه د منع کولو باوجود هم اوبه واغستلې، د هغې استعمال جائِز دے ❖ کومو اوبو ته چې د مُستَعمَلو [يعني استعمال شوو] اوبو داره اورسيدله يا پکښې ښکاره خاخکي اوشو په هغې باندې اَودَس نه کول بهتر دي ❖ په يخنئ کښې د اَودَس کولو په وجه که يخني ډيره کيږي، د هغې په وجه به تکليف هم کيږي خو که د څه مرض ويره نه وي نو د تَيَمُّم اِجازت نشته ❖ که د شيطان د تُوکلو او پوکي کولو سره په لـمانځه کښې د خاخکي راتلو يا د هوا خارج کيدو شک اوشي، حکم دا دے چې تر څو داسې يقين اونه شي چې په هغې قسم کولے شي نو د دې (وسوسے) دِ پروا نه کوي، که شيطان ورته وائي چې ستا اَودَس خو مات شو نو دا دِ ورته وائي چې خبيثه ته دروغژن ئې، او په خپل لـمانځه کښې دِ مشغول اوسي ❖ جُمات هر د کرَکژن څيز نه پاک ساتل واجِب دي اګر چې پاک وي، لکه لُعابِ دهن (يعني د خُلې لاړې، بَلغم)، د پوزې اوبه (يعني قنرے، يا د نزلے اوبه، د اوداسه اوبه[وغيره]) ❖ **خبردار:** بعضې خلق د اوداسه نه پس د خپل مخ او لاسونو نه اوبه لرې کړي او لاسونه په جُمات کښې وڅنډي (دا) بالکل **حرام** او ناجائِزه دي ❖ په اوبو کښې بَول کول مطلقاً مکروه دي اګرچه په درياب کښې وي ❖ کوم ځائے

چي څه نَجاست [يعني ګند] پروت وي [هلته] تلاوت مکروه دے ❖ اوبه ضائع کول حرام دي ❖ مال ضائع کول حرام دي ❖ په زم زم شريف غسل او اَودَس کول بے کراهته جائِز دي (او د بَولو وغيره کولو نه پس) په لُوټه (د وچولو) نه پس (په آبِ زم زم) اِستنجا کول مکروه او نجاست [يعني ګند] وِينځل (مثلاً د بَولو کولو نه پس په ټِيشو پيپر وغيره د وچولو نه بغير وِينځل) ګُناه ده. ❖ (هغه) اسراف (کوم) چي ناجائِز او ګناه دے (هغه) صِرف په دې دوو صورتونو کښې دے، يو دا چي په څه ګُناه کښې خرچ او استعمال کړے شي او بل هسې بيکاره خپل مال ضائع کول ❖ چا ته د مړي د غسل ورکولو طريقه زده کولو د پاره ئې مړے اولـمبوَلو او هغه ته ئې د غُسل ورکولو نِيَّت اونکړو نو هغه هم پاک شو او د ژوندو نه هم فرض لرې شو ځکه چي فِعل بِالقَصد کافي دے، خو د نيّت نه بغير به ثواب نه کيږي.

**يارَبِّ مصطفيٰ** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د اسرا ف نه د بچ کيدو او د شرعي اَودَس کولو سره هر وخت په اَودَس کښې د اوسيدو توفيق رانصيب کړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په اوداسه کښې مړکيدو والا شهيد دے

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: که ته هميشه په اوداسه کښې د اوسيدلو وَس لرې نو هم داسې کوه، ځکه چې **مَلَکُ الْمَوْت** د کوم بنده رُوح د اوداسه په حالت کښې واخلي د هغه د پاره شهادت ليکل شي.

(شُعَبُ الايمان ج3 ص29 حديث2783)

## په پيدائِش کښې د آسانئ نسخه (د مريم بي بي ګل)

د مريم بي بي ګُل[3] د ماشوم د پيدائِش د درد په شروع کيدو د غټې خُلې په لوښې يا ډبه کښې په اوبو کښې واچوئ، چې ځنګه ځنګه لـمديږي هغه به سپړدلے کيږي او د **اللّٰهُ** رَبُّ العِزَّت په عنايت به د مريم بي بي د ګُل په برکت د ماشوم په پيدا کيدو کښې آساني کيږي.

## د آپريشن نه بغير ماشوم پيدا شو (د مريم بي بي د ګل فائده)

د **دعوتِ اِسلامي** د **جامِعَةُ الْمدِينه** د يو مُدرِّس اسلامي وررور بيان دے چې زما د دويم ماشوم د پيدا کيدو ورځ وه، زما د بچو مور د اسپتال مخصوصې کوټې (ليبر روم) ته رسيدلې وه، لږ ساعت پس په ما د مدني ماشوم د پيدا کيدو زيرے اوشو. د اسپتال په انتِظارګاه کښې مې د يو

[3] دے ته ”مريم بوټے“ او ”د مريم پنجه“ هم وائي، د پنجے په شکل کښے په وچ حالت کښے وي. د پنساري (د يوناني دوايانو) د دُکان نه تر لاسه کيدے شي، په مکه او مدينه کښے د هغه ځائے زنانه او ماشومانو د خرخولو د پاره خيزونه په زمکه اېښې وي هغوئي سره هم پيدا کيدے شي، د دے د خاصيّت او برکت نه خبر عاشِقانِ رسول ئے د برکت د پاره وطن ته راوړي او نوروته ئے په تحفه کښے هم ورکوي. چه چا ته ئے ورکوئ هغه ته د استعمال طريقه ښودل هم ضروري دي. چه ډير زوړ نه وي نو زيات غوره دي.

کس سره مُلاقات اوشو نو هغه په خبرو خبرو کښې **د مريم بي بي د ګل** ذِکر اوکړو، زما په تپوس کولو هغه اووئيل چې د پيدائِش د درد په شروع کيدو دِ دا وَچ ګُل د غټې خُلې په يو لوښي يا ډبه کښې په اوبو کښې واچولے شي، چې څنګه څنګه دا لـمديږي نو سپړدلے کيږي به، او د دې فائِده دا کيږي چې د ماشوم په پيدائِش کښې آساني کيږي. بيا چې زيات و کم دوه کاله پس د دريم ماشوم د پيدائِش وخت راغے نو ليډي ډاکټرې زما د بچو مور ته اُووئيل چې ذهني طور د آپريشن د پاره تياره اوسه، ما ته د مريم بي بي د ګل خيال راغے نو ما د پنساري (د حکيمي دوايانو) دَ دُکان نه **مريم بوټے** واغستو او چې کله د پيدائِش وخت رانِزدے شو نو هغه مې په اوبو کښې واچوو، د **الله** تعالیٰ په کرم د آپريشن نه بغير مدني ماشومه پيدا شوه. يو موده پس په څلورم ماشوم هم ډاکټرې د آپريشن اووئيل خو د نورو اوراد او وَظائفو (کوم چې د مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَہ په چاپ شوي کتاب "گهريلو عِلاج" کښې موجود دي) سره سره مو "**مريم بوټے**" هم استعمال کړو، هم دغسې يو ځل بيا د آپريشن نه بغير مدني ماشومه پيدا شوه. د هغې نه زيات و کم دوه کاله پس چې د پينځم ماشوم د پيدائِش توقع وه نو مونږه خپل کور ته نزدے اسپتال ته لاړو، هلته هم ډاکټرې د ميډيکل رپورټونو او د خپلې تجربے په رڼړا کښې د آپريشن اووئيل ما په کوشش سره د رقم انتِظام هم اوکړو او د اورادو وظائِفو سره سره مې د پيدائِش د وخت په نزدے کيدو "**مريم بوټے**" د غټې خُلې په يو لوښي کښې په اوبو کښې واچوو، ډاکټرې ډير کوشش

اوکړو چې د آپریشن نه بغیر ماشوم پیدا شي خو آخر ما ته ئې اووئیل چې اوس د آپریشن نه بغیر هیڅ چاره نشته، ځکه ته د آپریشن د پاره رقم جمع کړه، او د آپریشن انتِظام ئې شروع کړو، رقم په بینک کښې وو، ما اسپتال ته نزدې د اے ټي ایم (A.T.M) مشین نه رقم راویستلو او په کاونټر مې جمع کړو، خو د آپریشن نه مخکښې راباندې د **الله** تعالیٰ په عطا د روږغ رمتِ مدني ماشوم د پیدا کیدو زیرے اوشو. د "**مریم بوټي**" د استعمال ما خلور یا پینځه اسلامي وروڼړو ته مشوره ورکړه په هغې کښې بعضو ته ډاکټر د آپریشن وئیلي وو، اَلْحَمْدُلِلّٰه هغوئې کره هُم د آپریشن نه بغیر ماشومان پیدا شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د عطّار (دامت برکاتہم العالیہ) اودس خانه

## د پاس نه د اودس خانې نقشه




## د بنې طرف نه د اودس خانې نقشه




فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net

MC 1286